
پښتانه هنرمندان
لومړی ټوک
ترتیب: نصیر ستوری

# پښتانه هنرمندان

(لومړی ټوک)

راټولوونه او ترتيب

## نصيـــــر ستوری

خپروونکی: د پښتونخوا د پوهنې دېره_ پېښور

چاپ او کمپيوټر ځای:
د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانگه_ پېښور
Tel: 2564513/ Email: danish2k2000@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## ځانګړنې:


د کتاب نوم :: پښتانه هنرمندان (لومړی ټوک)

ټولوونه او ترتیب :: نصیر ستوری

خپروونکی :: د پښتونخوا د پوهنې دېره ـ پېښور

چاپ شمېر :: 1000 ټوکه

چاپ نېټه :: 1386 ل/ 2007 م

کمپوزر :: مدثر "ناصری"


## ډالۍ

د خپل پلار

اروابښاد ډاکتر کبير ستوري

په نوم!

چې زه يې پښتو او پښتونولۍ ته هڅولی او روزلی يم.

# فهرست

## سرلیك

سریزه
استاد خیال محمد
استاد شاه ولي
استاد ګلزار عالم
استاد بختیار
ماس خان وصال
شاه ځوان منور
مېرمن ګلشن
بریالی صمدي
مېرمن هما (مینه افغان)
کبیر امیري
کمین ګل حېرت
استاد یار محمد علیزی
ماسټر علي حیدر
سپدا ګل مینا

# ســریــزه

هنر، موسيقي، ټنګ ټکور، شاعر، اديب او فنکار يو د بل سره تړاو لري شعر يې له موسيقۍ هم ويل کېدای شي، خو موسيقي او هنر د شعر په واسطه سره بشپړېدای شي.
خوشال خان بابا شاعري الهي حکمت ګڼي وايي:

ملايي په ډېر تحصيل شي
شــاعـري ده لـه حـکـمـتـه

او ښاغلی لايق زاده لايق ئې الهامي کيفيت بولي او وايي:

شاعري که الهامي کيفيت نه وی
د دنـيا خلک به واړه شاعران وو

نو دا چې شاعري الهامي کيفيت او الهي حکمت دی او د لوی خدایؑ له لوي په ځينو بنده ګانو لورينه (پېرزوينه) ده، نو هم دا راز په هنرمندانو او فنکارانو هم د خدایؑ نظر دی، چې په خوږو او زړه راشکونکو او ښکلي او ازونو يې سنبال کړي دي. اوازونه او غږونو ته يې تاثير او ښکلا ورښېلې ده چې د موسيقۍ او ټنګ ټکور سره يو ځای شعر يا نظم په ښکلي کمپوز کې ټولنې او مينه والو ته وړاندې کړي.
پښتانه په بنسټيي توګه موسيقي خوښوونکی قام دی، موسيقي او ټنګ ټکور د پښتنو د حجرو او دېرو ډول او سينګار دی او په پښتني ټولنه کې ورته ولسي مقام حاصل دی.
(د پښتنو په سيمو کې د اسلام راتګ نه مخکې هم موسيقي رواج وه، چې د هغه وخت موسيقي ډېره ساده او ابتدايي وه، خو ځينې بنسټيي راګونه او سرونه يې پيدا کړی وو د خوشحالۍ او ساعت تېرۍ داسې موقعه نه وه، چې موسيقي پکې شامله نه وه پښتانه قبايل چې به جنګ ته هم تلل، نو ډول او سروناګانې به ورسره وې).
*(ايمل خټک، ليکوال مياشتنی مجله، 2ګڼه، اپرېل 1992، پېښور)*
د پښتني ټولنې زياتره وګړي نالوستي کسان دي، ليک لوست نه شي کولای، خو موسيقي، ټنګ ټکور، فن او هنر سره مينه لري. د شاعر کلام او پيغام د شعر، نظم يا سندرې په بڼه د موسيقۍ په بدرګه اورې په دې هکله ډاکټر کبير ستوری وايي:

په سترګو نه وينم په غوږو يې اورېدلی شمه
په ليک کې مه راوړه پيغام د ساز نغمو کې راوړه

نو د هنرمندانو او فنکارانو دا دنده ده، چې شعر یا نظم د خپلو اغېزناکو خوږو اوازونو سره یوځای د ساز په نغمو کې لوستو او ناوستو پښتنو غوږونو ته په اسانه طریقه او لاره رسوي، جذبه یې بیداروي، روحي تسکین او ارام ورکوي او د ساعت تېرۍ سره سره د ټولنې اصلاحي او نظریاتی روزنه هم کوي چې د پوره قدردانۍ او ستاینې وړ ده.

د پښتنو هنرمندانو، فنکارانو او همدا شان د هنر او فن د پر مختیا لپاره یې په دولتي او سرکاري کچه ځانګړې او د یادولو وړ پالنه او پاملرنه، نه ده شوې، خو د ولس په ملاتړ د پښتني کلتور د ارزښتناکه فني او هنري برخه تر دې دمه ژوندۍ ساتل شوې ده.

پوهه، فن، ادب او هنر هغه شتمني ده، چې په استعمالولو سره پیاوړې، ځلانده او تازه کېږي، خو پاملرنه او روزنه هم غواړي دا چې موسیقي د خوشحالۍ او امن غږ دی او پښتانه امن او موسیقي خوښوونکی قام دی، نو خدای ج ورته یوه غټه شتمني د هنرمندانو او فنکارانو هم په برخه کړې ده.

په 1992ع کال د جون په میاشت کې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند **(PSDP)** په نوښت او د پښتنو کلتوري ټولنې۔ کلن جرمني په بلنه د پښتو موسیقۍ منلي او وتلي هنرمندان هر یو ښاغلی استاد خیال محمد، ښاغلی استاد شاه ولي، ښاغلی استاد ګلزار عالم، مرحوم استاد بختیار او ښاغلی ماس خان وصال په لومړي ځل د هېواد نه بهر جرمني ته راغلل. د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند **(PSDP)** دوی ته جایزې او لقبونه هم ورکړل او د دوی لنډې پېژندګلوۍ یې په ډېر لږ وخت کې په کتابي بڼه کې خپرې کړې، چې زه له **PSDP** څخه په مننه له دغه کتاب څخه په ګټه د دوی پېژندګلوۍ په (پښتانه هنرمندان) لومړي ټوک کې تاسې سره یوځای کوم.

همدا راز په دې وروستیو کلونو او بېلا بېلو وختونو کې یو شمېر هنرمندان او فنکاران لکه ښاغلی انور خیال، ښاغلی شاه ځوان منور، مېرمن هما افغان مینه، ښاغلی ماسټر علي حیدر، ښاغلی بریالی صمدي، ښاغلی صاحب ګل، ښاغلی انور شاه (د طبلې شاهکار)، ښاغلی استاد یار محمد علیزی، ښاغلی همایون حېرت، ښاغلی ننګیالی صمدي، ښاغلی سمیر جان صدیق، ښاغلی کمین ګل حېرت، ښاغلی کبیر امیری او ښاغلی عالمزېب مجاهد جرمني ته راغلي وو د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند **PSDP** د ځینو هنرمندانو په ویاړ مشاعرې جوړې کړې او د دوی یو شمېر فنکارانو او هنرمندانو ته یې د باچا خان جایزی هم ورکړې.

د پښتنو هنرمندانو او فنکارانو په ژوند او فن به نورو لیکوالانو، ادیبانو او ژورنالستانو لیکنې کړې وي او په ورځپاڼو او خبري رسنیو کې به یې هم وخت په وخت مرکې خپرې شوې وي، خو په منظم او کتابي شکل د پښتنو هنرمندانو پېژندګلوي او ژوند لیکونه زما تر نظره نه دي راغلي، نو زه هم دې ته وهڅېدلم او اراده مې وکړه، چې د دې ملي شتمنۍ (پښتانه هنرمندانو) د ژوند، فن او هنر یو څه برخه په کتابي شکل کې راغونډه کړم، ټولنې او مینه والو ته یې وړاندې کړم، چې دا کار ډېر وخت ته اړتیا لري، نو د ځینو هغه هنرمندانو مرکې، چې له ما سره شته دی، د (پښتانه هنرمندان) لومړی ټوک پرې رنګین او ښکلی شوی دی.

په دې ترڅ کې د دويم ټوک او ورپسې د نورو ټوکونو تابيا مې هم کړې ده، ترڅو زموږ درانه او ښاغلي هنرمندان او فنکاران پکې هم برخمن شي. ددې کتاب او نورو ټوکونو د بشپړتيا په خاطر د پښتونخواه پوهنې دېرې را سره ژمنه کړې ده. تمه ده، چې د پوهنې دېره به په دې برخه کې ژمنه ترسره او خپله مرسته به ونه سپموي.

په پای کې زه له ټولو پښتنو هنرمندانو او فنکارانو څخه هيله او غوښتنه کوم، چې خپلې لنډې پېژندګلوۍ او نظرونه او د پښتني کلتور د ودې او پرمختيا لپاره وړانديزونه د پوهنې دېرې ته له خپل انځور سره ور کړي او يا يې په لانديني پته ماته راولېږي، ترڅو د (پښتانه هنرمندان) په نورو ټوکونو او پښتني کلتور په دغه ارزښتناکه شتمنۍ غني او د تاريخ پاڼې پرې زرينې شي اميدی دی چې پښتانه هنرمندان به د نوي طرزونو او کمپوزونو په نوښت سره د هنر او فن ځولۍ نوره لا درنه او بډايه کړي او س دا تاسې او دا هم ستاسې (پښتانه هنرمندان) لومړی ټوک او د نورو ټوکونو د بشپړتيا په هيله.

په درناوي

نصير ستوری


Nasir Stori

KIEBITZWEG 12

50389 Wesseling

Grmany

Fax: 0049-2236-841930

Tel:  0094-2236-8705073

Email: nasirstori@web.de

psdp@psdp.com

# استاد خیال محمد

خیال محمد د پښتو فن د خیال شمله ده
خدای دې تل دغه شمله لري او چته

(کبیر ستوری)

استاد خیال محمد د خیبر د چوره کلي د اوسېدونکي د سپین ګل زوی دی، په ځه پښتون او د اپریدو د ملک دین خېل په ټبر پورې اړه لري.
سپین ګل خان د خیبر د چوره کلي وو او پېښور ته یې کډه کړې وه او استاد خیال محمد په **1946**ع کال کې په پېښور کې زېږېدلی دی.
د استاد خیال محمد اته سکه ورونه او دوه خوېندې وې، چې درې ورونه چې له خیال محمد څخه مشران وو او یوه خور یې په حق رسېدلې ده دی د خپل پلار څلورم زوی دی. اوس څلور ورونه او یوه خور لري، چې دی یې منځومی دی، دوه ورونه ترې مشران او دوه ترې کشران دي.
استاد خیال محمد دوه ښځې لري، چې یوه مېرمن ئې ژوندۍ ده. د مشرې ښځې یې اووه او دکشرې ښځې یې اته اولادونه دي. لومړی واده یې په **1963**ع کال کې کړی دی. په **1964**ع کال کې یې لومړی زوی او په **1965** کال کې انور خیال پیدا شوی دی.
استاد خیال محمد د پښتو ژبې د کلاسیکې موسیقۍ، ولسي موسیقۍ او د نوې موسیقۍ په برخه کې نه یوازې په پښتونخوا کې بلکې په آسیا کې د یو لوړ مقام خاوند دی.

## *د استاد خیال محمد د موسیقۍ د فن اغاز:*

په دې هلکه استاد د المان غږ له راډیو سره په یوه مرکه کې وایي:
(زما والد صاحب هم له موسیقۍ سره تړون درلود، زما مشر ورور سیف الملوک هم د پیښور د راډیو نه به سندرې ویلې. په دې کې څه عجیبه غوندې خبره خو دا ده چې موږ به هم دا راډیو اورېدلو ورته به کله مخې ته شو او کله شاته چې د راډیو نه سړی د اواز څنګه راوباسي، نو حقیقت دی چې د یوه دوکاندار سره داسې غټ غوندې راډیو وه، زه یې شاته راغلم. په دغه وخت زموږ د ورو پروګرام وو مطلب دا دی، چې ورور دې هر څنګه چې وي خوږ وي، خو دغه ډېره څه سیده ساده زمانه وه او زمونږ ماشومتوب و، نو هغه راډیو ته زه شاته و درېدم، چې ما وی ګوره چې په دې کې ناست وي، خو دا سوچ خو زموږ نه وه دا څه عجیبه غوندې کار دی. نو پس د هغې نه هم زموږ ددې سره شوق و او زما والد صاحب او زما ورور هم باجه، تبله، ډول سره اشنا وو زما مشر ورور زه په **1958**ع کال کې پېښور راډیو ته راوستم ویلې راشه ازموینه دې اخلم، که د راډیو واله منظور کړې، نو زما هم شوق و رسره وْو نو ورغلم، په هغه وخت کې رشید علی دهقان صاحب د راډیو د موسیقۍ پروګرام مشر و او ما دا سندره وویله:

نن مې د ښکلې ځوانۍ بیا نوی دوران دی

په هغه وخت کې چې تبله را سره چا غږولې وه، خدای دې وبښي د هغه ثمرګل نوم و او شپېلۍ چې را سره چا غږولې وه، د هغه ګل رحیم نوم و. هغه دواړه اوس خدای بښلي دي او په دې مې فخر دی، چې استاد بختیار را سره دی دغه سندره آزمایښتي شکل کې ما وویله او هغوی ریکارډ کړه د پېښور د راډیو نه په دغه وخت کې ریکارډ میکارډ نه وو، چا چې به څه وویل د هغه وخت سره به وو، نو خبره به ختمه وه، نو زما په خیال په هغه وخت سره چې د راډیو کوم مشران وو، نو زما د اواز پرې لږ څه اثر شوی وي. نو موږ چې سندره څنګه وویله، نو موږ ته یې ریکارډ واورولو، بیا زه هم په سوچ کې شوم).

## *د غزل د موسیقۍ نوی رنګ:*

استاد خیال محمد لس اته کاله د سندرو نه لاس اخیستی و او یوازې د تبلې او باجې سره یې شوق ساتلو، خو بیا خدای بښلی رفیق شینواری دی بېرته سندرو ته تشویق کړ او په دې لړ کې یې د غزل موسیقۍ ته نوی رنګ ور کړ. دی په دې هکله پخپله وایي:

(رفیق شینواری دې خدای وبښي نو ما سره به یې ګپ لګولو، چې وروره تا ولې راډیو ته شاکړې ده، په تا کې زه لږ څه وینم. دی ډېر یو پوه سړی و، پخپله یې هم سندرې ویلې وې او بیا په راډیو کې کمپوزر (طرز جوړونکی) شو. ما ورته وویل چې بس رفیق جانه! زما زړه اوس نه غواړي، تسلي خپله راته نه میلاوېده، خو داسې یو وخت راغی، چې ده ویل ټیپه، چاربېته بدله خو زموږ روایتي شی دی بنیادي غزل هم پکې شته دی، دې غزل ته هم یو رنګ ورکول په کار دي. رفیق بیا ماته وویل چې سبا ته ریکارډنګ دی راډیو ته ځو، نو بیا زه اته لس کاله پس راډیو ته ولاړم. دوه درې سندرې مې وویلې لکه د ارباب ودود کلام:

اوس دې یادونه افسانې ښکاري
دا څه دستور د زمانې ښکاري

او د حمزه صاحب کلام:

ژوند ته وګوره ژوند څه دی؟ همه کار کار دی
هغه ژوند په مرګ حساب دی، په دنیا چې بې روزګار دی

نو ددې دوه سندرو سره سره داسې حالات هم پکې راغله، چې د غزل برخه په پښتو مسیقۍ کې لږه وه، دا به وو ایم چې په ولس کې کمه وه، چې بس دغه یو منګی و ډز او ډوز به و، خو موږ ویل چې خامخا ددې ځیز لږ وړاندې تګ ته هم څه په کار دي، چې د موسیقۍ نه سړی خوند واخلي. دومره څه موږ وکړ چې د موسیقۍ رنګ بدل شو.

زموږ متعلق به دا هم خلکو ویل یو ښه سندر غاړی و چې هدایت الله او خیال محمد خو د راډیو نه هډو لیرې کړئ. هو بعضې تعلمیافته خلک هم و چې هغوی دا قبول کړل، چې دا غزل خو هم جدا یو خپل معیار او بنیاد لري، نو چا مخالفت کولو او چا مو مرسته او ملګرتیا کوله. نو د قدرت مهرباني وه چې غزل کې موږ دومره مخ په وړاندې لاړو او دومره مو دا ېره را جوړه کړه، چې غزل مو په خپل ولس ومانه).

## په تلویزیون کې په کار پیل:

استا خیال محمد په 1968ع کال کې په تلویزیون کې په کار پیل کړی دی. دی په دې هکله وایي:

(په دې وخت کې په پېښور کې د تلویزیون اسګټیشن نه و او زموږ د راډیو استېشن هم داسې وو، چې د چا خبره چې ورننه به وتو پته یې نه لګېده، چې دا د راډیو سټېشن دی؟ نو د پنډۍ په چکلاله کې د تلویزیون سټېشن و، نو دغه د 1968 کال خبره وه په دغه سټېشن کې زما په خیال استاد بختیار اول پروګرام کړی دی. ولې چې دا راغی ریډیو ته نو موږ ته یې د هغې کیسه کوله موږ خو د تلویزیون هسې نوم اورېدلی وو، نو ده ویل چې دغسې جونګړه یې راته جوړه کړې وه او پکې ناست وم، نو هغه بیا به موږ د پنډۍ نه د تلویزیون پروګرام کولو. پېښور کې د تلویزیون د سټېشن د جوړېدو راهیسې ددغه تلویزیون سره کار کوم په کوېټه کې، کراچۍ، لاهور او د نورو سیمو چې په تلویزیون کې موږ څه ویلي دي، د خپل ولس او قام په خدمت کې ویلي دي).

## په فلمونو کې د استاد خیال محمد برخه:

استاد خیال محمد پر 1970ع کال کې فلمونو کې په برخه او ونډه اخیستلو پیل کړی دی. ده د پښتو په تقریباً ټولو فلمونو کې چې شمېر یې درې سوو ته رسېږي برخه اخیستې ده او یوازې په درې فلمونو کې یې کار نه دی کړی. ځیني فلمونه په ده باندې پکچرایز شوي او په ځینو کې یې یوازې اواز دی. دده لومړی فلم (دره خېبر) و. دی په دې هکله داسې وایي:

"د پښتو لومړنی فلم (یوسف خان او شېربانو) او دویم فلم (دره خېبر) و، چې دغه هم په کلتور باندې جوړ شوی فلم و په دغه فلم کې دومره ساده ګي وه، چې زموږ خور لڼو او پښتنو ورونو کتو، نو پرې ښه لګېده د دره خېبر په فلم کې دا سندره چې د یونس قیاسي شعر دی، ما ویلې ده":

مـونږ یو د خېبر زلمي پـښـتـو زموږه شان دی
مـونږه پـښـتـانه یـو پـه وطن مـو ځان قربان دی

مونږه د خېبر په خوشکو غرونو کې لوی شوي یو
مـونـږه پـتـنګان یـو د غـېرت په شمعه سوي یـو

مــونــږ د وطــن مــتـېې يو وطن زمونږه ځان دی
مــونــږه پــښـــتـانه يو په وطن مو ځان قربان دی

زمـــونـــږه ارادې د تــاتـــرې نه هـــم اوچتې دي
پـــه ويـــنو کې زمونږه خزانې د غېرت پټې دي

مــونږه توريالېو يو دا وطن په مونږه ګران دی
مــونږه پــښـــتـانه يو په وطن مو ځان قربان دی

څوک چې په خبرنو سترګو دې وطن ته وګوري
سترګې به ترې وباسو چې دې چمن ته وګوري

زمـــونـــږ پـه يـــوه چـــغـه لړزېدلی ټول جهان دی
مــونږه پــښـــتـانه يو په وطن مو ځان قربان دی

دغه سندره د ريکارډنګ نه وروسته په ما فکچرايز شوه. دا د هغوی خواهش و، خو زه يوې خبرې ته حېران شوم، هغه ځای ته چې اوس زه ګورم هلته په غه ستېژ باندې چې مونږ دغه سندره فکچرايز کړې وه، که زمونږ په دې دوستانو کې اوس څوک هغه ځای ته لاړ، نو په هغه ځای جومات جوړ دی، خو دومره ښايسته او ښکلی جوما جوړ دی، چې هغه چا جوړ کړی، خو د خدای کور دی، خو ډېر اعلی اکثر جوړ کړی دی، چې خدای ببنلی الحاج سلطان راهي نومېږي.

## *جايزې او مډالونه:*

*استاد خيال محمد د موسيقۍ د فن په برخه کې د خپل ستر خدمت له کبله ګڼ شمېر جايزې او مډالونه لاس ته راوړې دي، چې ځينې يې دا دي:*

*په **1970**ع کال کې د خېبر جايزه د حيات خان شېرپاو له خوا چې د صوبه سرحد ګونر او لومړی وزير و.*

*په **1980**ع کال کې د پاکستان د صدر له خوا د ملک د خدمت عالي مډال.*

*په **1988**ع کال کې د پاکستان د کلتور وزارت د فلم د ادارې له خوا ملي ايوارډ.*

*په **1989**ع کال کې د پاکستان د تلويزيون د پېنځه ويشتمې کاليزې د نمانځلو په خاطر د تلويزيون د کورپوريشن له خوا طلايي مډال.*

*په **1989** کال کې د باچا خان د امن جايزه.*

*په **1990**ع کال کې د صوبه سرحد د اسمبلۍ د سپيکر له خوا د خدمت مډال.*

*په **1991** کال کې د پاکستان د کلتور وزارت د فلمي ادارې له خوا ملي ايوارډ.*

*د سګوډنټ فيډرېشن لاهور له خوا مډال.*

د استاد خيال محمد په اواز نه يوازې د افغانستان او پاکستان د راډيو او تلويزيون پروګرامونه ښکلي شوي دي، بلکې د زيات شمېر نورو هېوادونو راډيو پښتو پروګرامونو ته هم د استاد خيال محمد آواز او فن ژوند وربښلی دی. ده د خپلو سفرونو په لړ کې چې زيات شمېر هېوادونو ته يې سفر کړی دی، آزاد کنسرتونه هم ورکړي دي.

د قيصر خان د يوې څېړنې له مخې استاد خيال محمد (81590) سندرې ويلي دي، چې (11590) سندرې يې ريکارډ شوي دي. دغه ريکارډ شوې سندرې په دې ډول دي:

د راډيو پاکستان د راډيو پېښور، راډيو کوېټه، راډيو اسلام اباد او د لاهور له راډيو څخه 4290 سندرې.

د فلمي سندرو مجموعه (2000).

په کېسټونو کې نيول شوې سندرې (2200).

په ولسي، قومي، کلتوري، رسمي پروګرامونو کې (70000) سندرې چې څه يې د ريکارډ شوو سندرو تکرار دی. لنډه دا چې استاد خيال محمد د پښتو د فن او هنر د تاريخ نه بېلېدونکې برخه ده او بل له ده نه د پښتو د هنر او فن تاريخ نيمګړی دی.

***

# استاد شاه ولي

استاد شاه ولي، د حاجي بهرام خان زوی او د حاجي تبرک شاه لمسی دی. دی د پروان ولايت د تګاب په ولسوالۍ کې په 1952 کال کې زېږېدلی دی. په هډ پښتون او د ساپو د مسعود په تبر پورې اړه لري.

استاد شاه ولي شپږ ورونه لري، چې پېنځه يې مړه دي او يو يې ژوندی دی چې ولي جان نومېږي او له استاد شاه ولي نه کشر دی.

استاد شاه ولي يوه مېرمن او دولس بچيان، چې 7 هلکان او پېنځه يې نجونې دي، لري. دده تر ټولو کشر زوی صدام حسين نومېږي او دوه کلن دی. استاد شاه ولي درې لمسيان لري او د خپل واده په اړوند وايي، چې:

(ځينې خلک فکر کوي، چې زما دوه ښځې دي، خو يو خدای ښه دی او يو يار ښه دی، زما يوه ښځه ده).

## د استاد شاه ولي د فن پيل:

دی په دې هکله وايي:

(زما د سندرو سره داسې شوق پيدا شو ، چې زه د ولي داد خېلو په متوسطه کې په پېنځم ټولګي کې وم. زه په دغه لاره چې به تلم کتابونه به زما په شاوو ، زه چې به سبق ته تلم، په واپسۍ کې به راتلم، يوه ورځ داسې ورځ وه، چې زما يو ډېر ګران عزيز چې د کونړ دی او سيد عالم نومېږي او د هغه اواز په راډيو کې چې د يو چا سګره په لاس کې وه، راغی چې ويل يې:

تل مې سوځي په غرمو ولاړه يمه
سـخـتـه د بـل وطـن يـاري ده

نو دغه اواز په ما ډېر خوږ ولګېده او ما ويل چې زما زړه يې راوو ېست. د هغه سندرې سره زه اشنا شوم، بيا به هماغه سندره ما په لوړ اواز ويله، ځکه په کور کې به مې نه شوه ويلې، ځکه چې زموږ د کورنۍ له خوا به ممانعت کېده، نو بهر دښتې ته به ووتلم او هلته به د بابا خوږ ورته وايي، په دغه خوږ کې به مې شروع کړه، چې:

تل مې سوځي په غرمو ولاړه يمه

بيا مې خپل ماما ګل اغا ته چې په ارګ کې يې کار کاوه، وويل چې ستاسې کورنۍ خو يې ډېر بدګڼي خو زما له سندرو سره شوق دی، که ما ته اجازه واخلې، چې د افغانستان په راډيو کې ونيول شم، نو بيا هغه دومره کومک وکړ، چې د احمد شاه (پاچا زوی) نه يې خط واخيست او ما راډيو افغانستان ته يوړ. په دغه وخت کې به زه يوولس کلن وم، چې په راډيو افغانستان کې و نيول شوم او يوه سندره مې داسې وويله، چې زما اواز نه پېژندل کېده، چې هلک دی او که نجلۍ ده؟ دغه **1963** کال و ، چې له دغې کال څخه وروسته له افغانستان راډيو سره زما همکاري پيل شوه او د افغانستان د تلويزيون جوړېدو سره سم مې له تلويزيون سره هم همکاري پيل کړه ).

استاد شاه ولي د افغانستان په راډيو تلويزيون کې له **150** نه زياتې سندرې ويلې دي.

## استاد زاخېل او استاد شاه ولي:

د استاد شاه ولي باجه استاد زاخېل ته ورته ده دی په دې هکله وايي:

(زه له استاد زاخېل سره تقريباً **15** کاله شاګرد پاتې شوی يم، خو وريجنل (سوچه ) پښتو چې څه شي ته وايي، بنيادي طور له هغه سره ما د پښتو په هلکه باندې کار کړی دی، نه کلاسيکي ځکه چې ورته کوم فولکلوري سندرې وايو هغه سندرې به هغه په باجه کې غږولې. د هغه خوشبوی فکر کوم، چې زما ګوتو او زما په لاسونو کې موجوده ده او خلک راته وايي، چې موږ ستا د باجې نه هغه خوند اخيستلی شو ، کوم چې مو د زاخېل له باجې نه اخيسته ).

د استاد شاه ولي په نظر باجه مخکښ رول په موسیقۍ کې لوبوي او د موسیقۍ نورې آلې ځانته هم غږېدلی شي. دی وایي:

(باجه یو بنیادي شی دی لکه د یوه تعمیر یا کور بنخته، رباب په دې کې شک نشته دی، چې رباب دی یا سیتار، دوتار، تنبور، سارنګی، دلربا، ګیتار یا وابلن له باجې سګره سُر کېږي او که ځانته وي، هغوی نو خپل کار کولی شي).

### *استاد او کلاسیکه موسیقي*

استاد شاه ولي د کلاسیکې موسیقۍ د استادۍ درجه په لاهورکې تر لاسه کړې ده دی په باجه او د موسیقۍ په نورو آلو کې مختلف راګونه غږولی شي. ده د کلاسیکې موسیقۍ زده کړه 12 کاله له استاد ماسټر نواب علي خان څخه کړې ده.

استا شاه ولي په ارمونیې سربېره په رباب، هورګل، طبله، دوتار، تنبور او زېر بغلۍ په غږولو کې پوره مهارت لري.

ده د پاکستان په راډیو او تلویزیون کې د درې سوو نه زیاتې سندرې ویلې دي او د پاکستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا ورته مډالونه او جایزې هم ورکړل شوي دي. د باچا خان جایزه یې هم لاس ته راوړې.

استاد شاه ولي په پښتو فلمونو کې هم سندرې ویلې دي او له افغانستان او پښتونخوا څخه بهریې هم کنسرتونه ورکړي دي او د ډنمارک په تلویزیون او راډیو کې یې د پښتو موسیقۍ پروګرام وړاندې او خپور شوی.

استاد شاه ولي د پښتو موسیقۍ یوه بله ډیوه ده، خدای ج دې دغه ډیوه بله لري امین.

***

# استاد ګلزار عالم

استاد ګلزار عالم د میر افسر خان زوی او د محمد حسین خان لمسی دی په قوم پښتون او د میاګانو په ټبر پورې اړه لري.

د استاد ګلزار نیکه محمد حسین خان د صوابۍ د سیمې او سېدونکی و ددغه ځای نه ده مټه مغل خېل ته هجرت وکړ، چې ډېره شبقدر ته یو شپږ میله نژدې کلی دی. دغلته دده نیکه وفات شوی دی. نیا یې د پلار او یوې ترور سره پېښور ته راغلل. دغلته د استاد پلار اباد شو اوواده یې هم وکړ.

استاد پر 1959ع کال کې په پېښور کې دې نړۍ ته راغلی دی. استاد ګلزار عالم پېنځه ورونه لري، چې درې یې سکه او دوه یې ناسکه دي او پېنځه خوېندې لري، چې دوه یې سکه او درې یې ناسکه دي د پلار تر ټولو مشر زوی دی. دده دواده څه ناڅه لس کاله کېږي او درې زامن لري، چې مشر یې د اتو کلونو او کشر یې د دوو کلونو دی.

## د استاد ګلزار عالم د فن پیل:

دی د خپل فن په هلکه وایي:

(زما له دې فن سره تړون د شوق په بنیاد دی، زه چې ماشوم وم ما به د دوو سندرغاړو اوازونه اورېدل، چې یو یې استاد مهدي حسن و، چې هغه په اردو ژبه سندرې وایي او بل استاد خیال محمد و. دغه دوه اوازونه به په ما ډېر ښه لګېدل.

کله چې به زه خپل کلي ته لاړم، نو د دوی سندرې به ما په پټو کې ویلې. دغه شان زما شوق او یا فن سره مینه پیدا شوه.

زموږ کورنۍ یوه مذهبي کورنۍ وه، خو بیا هم زما له موسیقۍ سره شوق وو، نو ما پټ پټ ورسره تړون لرو. زه را لوی شوم او په کالج کې مې داخله واخیسته. په کالج کې زه په دولسم (12) ټولګي کې وم. هلته به یو پیریډ کېدلو، چې ریسس به یې ورته ویلو، چې هلکانو به مختلف شیان ویل بعضو به تقریرونه کول، چا به شعرونه ویل او ما به سندرې ویلې.

هلکانو به ماته ویل، چې ستا خو ښه اواز دی، نو باید موسیقي زده کړې. د کالج په وخت کې زموږ یو ډېر ښه استاد و، چې ماسټر عنایت سلطاني نومېده. له هغه سره ما داخله واخیسته او لړه لړه باجه مې ورسره شروع کړه. بیا زه پوهنتون ته لاړم او د هنر په څانګه کې په پوهنه بوخت شوم.

د ژوند لومړی پروګرام ما په پوهنتون کې ورکړ. یوه میله جوړه شوې وه، چې ما دغلته سندره وویله، چې ملګرو او خلکو زما ستاینه وکړه او زما حوصله نوره هم اوچته شوه بیا ما په عوامي محفلونو کې شرکت وکړ، نو دغسې په مزه مزه زما پروګرامونه زیاتېدل).

استاد ګلزار عالم د هنر په څانګه کې خپله لوړه زده کړه د B.A په سویه پر 1986 کال بشپړه کړې ده.

## استاد ګلزار عالم او د مارشل لا دور.

د استاد ګلزار عالم سندرې د ځوانانو ډېرې خوښېږي او پکې ملي او د انقلاب پېغام پروت دی.

را واخلئ بیا د انقلاب سره نشانونه لېونو زلمو
دا خاوره انقلاب غواړي، د ازادۍ انقلاب

چې په سوات کې یې د خپل یوه ملګري په واده کې ویلې وه او ریکارډ شوې وه، د پوځیانو پام ځانته راواړوه او په مختلفو طریقو سره یې دی وځوراوه. دی په ننښتون کې وایي.

(مارشال لا د منځه تللو کې چې څومره کار سیاستمدارانو کړی دی، دومره برخه پکې موږ هنرمندانو هم اخیستې ده).

### په راډیو کې همکاري:

استاد ګلزار عالم ته د خپل ولسي مجوبیت له کبله د ریډیو له خوا د همکارۍ وړاندیز شوی و او په 1989 کال یې د کوټې د راډیو نه لومړی هنري پروګرام وړاندې کړی او نشر شوی دی او په ریډیو کې صرف شپږ میاشتې وروسته د لومړیو درجه سندرغاړو په کتار کې ونیول شو.

نن ورځ استاد ګلزار عالم د پاکستان د ډېر شمېر ریډیو او تلویزیون له مرکزونو سره کار کوي او هم یې یو شمېر فلمونو ته سندرې ویلي دي. د کوټې او پېښور د راډیوګانو څخه یې (144) او د کوټې او پېښور د تلویزیونونو له مرکز څخه یې (733) سندرې نشر شوي دي.

### جایزې او مډالونه:

د پاچا خان د امن جایزه.

د ټول پاکستان د ځوانانو د تنظیم جایزه.

د کلتور وزارت د صوبه سرحد د څانګې له خوا جایزه.

د پښتون سټوډنټ فېډرېشن له خوا د باچا خان جایزه.

د پښتو عالمي کانفرنس کوټې له خوا طلايي مډال.

استاد ګلزار عالم پښتون ولس ته داسې پیغام لري.

(زه ټولو پښتنو ته یوه خبره کول غواړم، چې پښتانه موسیقي په ډېر شوق اوري، د هر پښتون په کور کې ریډیو، تلویزیون او ویډیو شته، خو سندرغاړي ته هغه عزت هغه قدر نه ورکوي، کوم چې د هغه حق دی. نو زه خپلو پښتنو ته وایم، چې خپلو هنرمندانو ته د قدر په سترګه وګوري).

***

# استاد بختـــیار

ادم خان ورته سر ټیټ کړ په تـعـظیم شو
چې رباب په غېږ کې پروت د بختیار دی

خدای بښلی استاد بختیار، د دین محمد خان زوی او د پیر محمد خان لمسی دی په هڅه پښتون او د دوزو په ټبر پورې اړه لري.

دی پر 1937ع کال کې د متې اصحاب بابا کې زېږېدلی دی. استاد بختیار پېنځه وروڼه او درې خویندې لري. استاد یوه مېرمن او نهه بچي لري، چې څلور یې هلکان او پېنځه نجونې دي. د مشر زوی یې اختیار احمد نوم دی، چې له رباب سره شوق لري او نور درې یې هر یو زاهد، مراد او عارف نومېږي.

## د استاد بختیار د فن پیل:

د استاد پلار د پاکستان په راډیو کې کار کاوه او یو ورور، چې تاج محمد نومېده هم د پاکستان په راډیو کې طبله غږوله.

استاد د کوچنیوالي نه د رباب غږولو سره اشنا شوی او پر 1957 کال کې د پېښور په راډیو کې چې دا مهال رشید علی دهقان د موسیقۍ د پروګرام مشر و، دی په نوکرۍ ولګوو او سل روپۍ تنخوا یې ورته مقرره کړه.

ده د خپل پلار نه د ریدي سندره یاده کړې او د لومړي ځل لپاره یې دغه سندره په راډیو کې په رباب وغږوله.

استاد بختیار له تلویزیون سره له هغه وخت څخه همکاري شروع کړې، د کومې ورځې څخه چې په پېښور کې تلویزیون په کار پیل کړی دی.

## کمپوزونه:

استاد بختیار د لوړو او نامتو پښتنو سندرغاړو لکه: استاد مظفر خان، استاد شېر علي خان، استاد نورالرحمن، استاد احمد، استاد میرګل، استاد انځري، استاد خیال محمد، استاد شاه ولي او استاد ګلزار عالم سره رباب غږولی او کمپوزونه یې ورته جوړ کړي دي او له ځینو سره یې ژوندۍ موسیقي کړې ده، چې د تلویزیون له لارې سیده خپرېده.

## فلمونه:

استاد بختیار له 22 څخه په زیاتو فلمونو کې رباب غږولی دی. د دره خیبر په فلم کې هم د استاد بخیار رباب دی، چې د خیال صاحب په غېږ کې پروت دی.

## شاګردان:

استاد له 25 څخه زیات شاګردان روزلي دي، چې ځینې یې د بهرنیو هېوادونو دي، په خپل فن کې د لوړ استعداد له کبله د پاکستان د صدر له خوا د خدمت مډال (صدارتي ایوارډ ) هم ور کړل شوی دی.

## سفرونه:

استاد بختیار بلجیم، تایلنډ، چین، مسکو، سنګاپور، بنکان، هانکانګ، ترکي، اردن، هالنډ، اذربایجان او عمان ته رسمي سفرونه کړي دي او پروګرامونه یې وړاندې کړي دي او جرمني ته هم تللی او هلته ئې د پښتو محفل په خپل رباب باندې رنګین کړی، چې د وطن نه لرې پښتنو ته د خپلو حجرو ټنګ ټکور وریادوي.

### *کلاسیکي موسیقي:*

استاد بختیار د خپل ورور تاج په سلا د استاد نظر حسین نه د کلاسیکې موسیقۍ زده کړه کړې ده او د کلاسیکې موسیقۍ مختلف راګونه د خپل رباب په زیر او بم پردو کې اړولی شي او پوره مهارت پکې لري.

❋❋❋

# ماس خان وصال

ماس خان د پښتنو د دېرو او حجرو یو ځوان استعداد لرونکی، موسیقي جوړونکی، طبله غږوونکی او شاعر دی.

دی د نورمحمد خان زوی او د میر احمد خان لمسی دی او د پېښور په ماشوخېلو کې پر **1966**ع کال کې زېږېدلی دی. دی په هډه پښتون او د مومندو د ټبر پورې اړه لري.

د ماس خان پېنځه وروڼه او دوه خوېندې دي. وروڼه یې دده نه مشران دي او کشر ماس خان دی. ماس خان د **1992** کال په پیل کې واده کړی دی.

### *دماس خان د هنر پیل:*

دی په دې هکله وایي:

(زه د اتو کلونو په عمر کې وم، چې په موسیقۍ مې پیل کړی دی او لومړی مې ډول غږوو او موږ به د زنانه و پروګرامونو ته کورونو ته تلو زما مشر ورور، چې هغه طبله غږوله، ما د هغه نه طبله زده کړه او په طبله کې یې مختلف تالونه لکه تنګړه، د ځتکو اتڼ او داسې نور رازده کړل بیا ما د موسیقۍ د بنیادي ځیزونو د زده کړې دپاره له استاد انور شاه او استاد عنایت سلطاني څخه د طبلې نوره زده کړه وکړه.

طبله یو داسې آله ده، چې زده کول یې ډېر محنت غواړي، ارمونیه او رباب پردې لري، خو طبله پردې نه لري او څه چې زه په خوله وایم، هغه په ګوتو غږووم).

ماس خان زیاتوي، چې په طبله کې (**360**) تاله دي.

### ماس خان د شاعر په توګه:

په دې هکله ماس خان وايي:

(د طبلې د زده کړې نه وروسته بیا زه د استاد ګلزار عالم په ډله کې شوم، هلته زه له ډېر ښه ماحول سګه متعرف شوم، چې هلته به شاعران او عالمان راتلل، چې د هغوی نه ما د شاعرۍ رنګ واخیست. ښاغلی رحمت شاه سایل له ما سره د شعر او شاعرۍ په برخه کې زیاته خواري کړې او کوي یې).

د ماس خان د شعر بېلګه:

**دعـا**

اوسـي په سـمه که پـه غـر پښتانه
خدایه یوځای کړې لر او بر پښتانه

تـنکي ګلـونه دي تازه اوسي تل
لاهـو دې نه شي بې ګودر پښتانه

وطن مې تن زړګی پښتون لرمه
بل مې د سترګو دي نظر پښتانه

دا تار په تار لېوني بیا یوځای که
چې ځي راځي په خړ خیبر پښتانه

ټوله دنیا کې دې بدلون راوسـته
یوځای دې نه کړه در په در پښتانه

لا زه وصـال ترې نه امـیـد لرمـه
یـو ورځ به راولي اخـتر پـښتانه

ماس خان د ډول او طبلې سربېره ارمونیه، رباب، سرینده او هورګل هم غږولی شي. ماس خان له **1977** کال په دې خوا د پېښور او کوېټې راډیو او تلویزیون سره کار وي او په یو شمېر فلمونو کې یې هم طبله غږولې ده.

ماس خان د څه نا څه دوه زره نویو سندرو سره طبله غږولې او فعلاً ئې ډېرو ځوانو سندرغاړو ته موسیقي جوړه کړې ده. موږ ماس خان ته د روښانه راتلونکي او اوږد ژوند هیله کوو.

❋ ❋ ❋

# شاه ځوان منور

نر زامن د (منور) شاه ځوان، رضوان
د حـجـرې د مـجـلس دوی دي اتلان

ځوان او خوږ اوازه هنرمند ښاغلی شاه ځوان (منور) د خدای ښېلي استاد بادام (منور) زوی، د کوز کونړ د شګې په کلي کې په موسيقي پاله کورنۍ کې په **1350** لمريز کال زېږېدلی دی. زده کړه يې د کوز کونړ د ښيوې د ولسوالۍ د سيد جمال الدين افغان په لېسه کړې ده.

شاه ځوان پينځه ورونه لري، چې ښاغلی رضوان منور يې مشهور سندرغاړی دی او د ننګرهار ولايت د هنرمندانو د ټولنې مشري په غاړه لري. ځاروان منور هم سندرې وايي، بازوان منور او شاه جان منور يې شاعران دي.

شاه ځوان په **1368** ل کال واده کړی، درې زامن او څلور لورګانې لري.

شاه ځوان وايي، چې په **1367** ل کال کې يې په موسيقۍ پيل کړی او د موسيقۍ په الاتو کې ارمونيم (باجه) غږولی شي. د افغانستان او پېښور په راډيو او تلويزيون کې يې هم ګڼ شمېر سندرې ويلي دي. ګڼ شمېر وډيو او اوډيو کېسټونه يې د موزيک سنټرونو له خوا د ټينګ ټکور مينه والو ته وړاندې کړې دي.

لومړنۍ سندره يې له خپل پلار بادام منور سره يوځای د کابل راډيو تلويزيون کې ويلې وه، چې مطلع يې داسې ده:

چـې دې پـه مـتـو خـوند کـويـنه
رابه وړمه داسې بنګړي داستا دپاره

شاه ځوان منور وايي چې په خپلو ويل شويو سندرو کې يې د کاروان صيب دا غزل:

غوږ غوږ ومه چې غلی غلی يار غږېده
په زړه کې مې نرۍ نرۍ سيـــتار غږېده

ډېر خوښ دی، چې طرز او کمپوز يې ما پخپله کړی دی.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې تر اوسه مو د کومو شاعرانو شعرونه ويلي دي؟ دی وايي:

(ټول پښتانه شاعران راته ګران دي او درناوی يې کوم، خو په خاص ډول مې د ډاکټر کبير (ستوري)، لايق زاده لايق، نعيم ماما خېل، شيفته مل کامه وال، شفيع الله بابرزي، مدهوش، پرهيز شګيوال، باز محمد کاشکوټي، شکرالله امان زوی، قدير وطنوال، قدير پښتونمل، حضرت ښبوه وال، استاد ملنګ جان شعرونه او غزلې ويلي دي.

*پوښتنه: په پښتنو هنرمندانو کې دې د چا اواز خوښېږي؟*

ځواب: ټول پښتانه هنرمندان د قدر وړ دي او زما خوښ دي، خو زه د خپل پلار استاد منور له اواز سره ډېره مینه لرم او د هغه په اواز دغه ویل شوې سندره، چې د خوشال خان بابا کلام دی:

کـه زه نه وای عـشق بـه تا لره بلل څـوک
په پالنگ به دې دا هسې درخـتـل څـوک
مې هر وخت د خپل پلار یاد را تازه کوي

*پ: په خوراکونو یا غذا کې دې څه شی ډېر خوښېږي؟*

ځ: په خوراکونو او کتغ کې مې کبان ډېر خوښېږي.

*پ: کومو بهرنیو هېوادونو ته مو هنري سفرونه کړي دي؟*

ځ: په **2004**ع کال او **2006**ع کال دوه واره مې اروپايي هېوادونو ته هنري سفرونه کړي دي، چې په جرمني، هالنډ، بلجیم، ډنمارک، سویډن او ناروې کې مې لایف کنسرتونه ور کړي دي او په بهر کې د پښتنو د ځوان کول په ودونو کې مې هم برخه اخیستې او سندرې مې ویلې دي. پښتني کلتور او ادب ته د نه ستړي کېدونکیو خدمتونو له امله د پښتنو ټولنیز ولسولیز گوند **PSDP** د باچا خان جایزه راکړې ده.

کله چې غربي موسیقي او په تېره بیا **Keyboard** چې هر څه پکې یو کس **Automatic** برابروي له پښتو موسیقۍ سره غبرگه شوې ده، نو د پښتو موسیقۍ **Live** خوند او مزه یې کمه کړې ده. که دغه برقي میوزیک ماشین **(Keyboard)** ته سندرغاړي هم ولاړ وي او سندرې وايي، خو ژوندۍ **(Live)** موسیقي یې په بېلا بېلو الاتو لکه ډرم، گیتار، اکاردیون او داسې نورو سره ښکلې شوې وي. لکه څنگه چې ما دلته په جرمني او نورې اروپا کې د ودونو او ښادیو په ځینو محفلونو کې ولیدل، سندرغاړي یوازې د خپلې گټې په خاطر همدغه یو ماشین **(Keyboard)** شاته ولاړ وي. لاوډسپیکرونه یې په جگ اواز سره برابر کړي وي، نو اورېدونکي او د خوشحالۍ اوښادیو په محفل کې گډون کوونکي یې په سندرو نه پوهېږي، یوازې لکه د ډسکو په شان درز او غوبل وي، نو زما وړاندیز دا دی، چې هغه درانه او ښاغلي سندرغاړي چې پښتني کلتور د موسیقۍ برخه په دغه ماشین سره ککړوي، نو باید فکر وکړي او د موسیقۍ د پرمختیا لپاره نورې لارې چارې ولټوي او په بهر کې ټولو درنو اوسېدونکیو هېوادوالو څخه غوښتنه کوم، چې د ودونو او خوشحالیو په پروگرامونو او محافلو کې د خپل کلتور او هنر د ژوندي ساتلو په خاطر ژوندۍ موسیقۍ (ټنگ ټکور) ته غوره والی ور کړي او که نه نو له دې څخه به دا ښه وي، چې په ټېپ کې کیسټ واچوي او د لاوډسپیکرونو په واسطه یې خلکو ته واوروي. هیله ده چې په دې به ما نه خپل درانه هېوادوال نه خپه کېږي.

ستاسې له مرکې څخه چې زما سره مو وکړه، ډېره ډېره مننه.

❋❋❋

# مېـــرمـــــن ګلشن

ښکلې او خوږ اوازه سندرغاړې

یادونه: ددې مرکې غټ ټکي د (ننګرهار) میاشتنۍ مجلې د **1352** هـ ل کال د لیندۍ د میاشتې د دېرشمې نېټې د **193** یمې ګڼې څخه اخیستل شوي دي.

مېرمن ګلشن د پښتو موسیقۍ خوږ ژبې سندرغاړې ده، چې په لره او بره پښتونخوا کې او په تېره بیا په ننګرهار کې ډېر شهرت او مینه وال لري.

مېرمن ګلشن خپله پېژندګلوي کې وايي:

زما نوم ګلشن دی او د چارسدې یم، د مېړه نوم مې محمد شفیق دی او په کوهاټي مشهور دی. مور او پلار مې اوس هم په چارسده کې اوسېږي، زه دلته له خپل مېړه سره یوځای په ننګرهار کې استوګنه لرم.

*پوښتنه: ستاسې له سندرو ویلو سره کله او څنګه مینه پیدا شوه؟*

ځواب: زموږ کور د پښتونخوا په چارسده کې و او ډېره کوچنۍ وم، چې د سور پوښانو غونډې او مظاهرې به مې لیدلې او کله چې زه ننګرهار ته راغلم، د ملنګ جان استاد ملي شعرونه به مې اورېدل او همدې ملي شعرونو په یادولو د هنر نړۍ ته راښکلم او د زړه لمبې مې د سندرو په توګه له خولې څخه راووتلې.

*پ: ستا له نظره په ټولنه کې د هنرمند دنده څه ده؟*

ځ: دا خو ښکاره خبره ده، چې هنر د چاپېریال انعکاس دی، نو همدا سبب دی چې هنرمند د یوې ټولنې هنداره ده، نو که هنرمند هر څومره خپل چاپېریال او خلکو کې محبوبیت پیدا کوي او هنر سره یې خلک مینه ساتي.

*پ: په هنرمندانو کې دې د چا اواز ډېر خوښېږي؟*

ځ: په هنرمندانو کې مې د استاد خیال محمد ، مېرمن قمرګل او ګلنار بېګم اوازونه ډېر خوښېږي.

*پ: کوم خواړه دې زیات خوښ دي؟*

ځ: په خوراکونو کې مې سوکړک او سابه ډېر خوښ دي.

*پ: په ګلونو کې دې کوم ګل خوښ دی؟*

ځ: د نرګس ګل سره مې ډېره مینه ده.

*پ: که د خپل مصروفیت په اړه څه ووایاست؟*

ځ: زما مصروفیت دلته په کنسرت کې دی او د (ګلشن نندارې) په نامه یادېږي، بل مصروفیت نه لرم. د راډیو افغانستان دپاره مې تر اوسه لس سندرې ثبت شوي او نورې هم ثبتوم.

❋❋❋

# بـــــــــر يـــالي صمدي

ځوان سندرغاړی بریالی صمدي د خدای بښلي استاد عبدالصمد زوی، په **1978** ع کال د ننګرهار ولایت په ریګ شاه محمد خان کې په یوه هنري کورنۍ کې زېږېدلی دی.

په **2002** ع کال کې یې واده کړی دی، دوه زامن لري، چې مراد خان او مرید خان نومېږي.

ښاغلی بریالی صمدي د خپل خدای بښلي پلار استاد عبدالصمد په هلکه وایي:

(زما پلار د موسیقۍ تکړه استاد او د موسیقۍ په رازونو او سرونو پوه و، د پښتو مسیقۍ د غني کېدو دپاره یې ډېر زیار ګاللی دی، بې شمېره شاګردان یې لکه ښاغلی استاد رحیم غمزده، ښاغلی منګل، ښاغلی مدد، ښاغلی ګل علي، ښاغلی استاد زاخېل، استاد خدایداد، مېرمن ګلشن، رضوان منور، جعفر خان خلیل، روزي دین او نور روزلي دي. له استاد زاخېل سره به یې په کلاسیکه موسیقۍ کې هم مرسته کوله).

ددې پوښتنې په ځواب کې، چې له هنر سره دې ولې او څنګه مینه پیدا شوه؟ وایي:

(له هنر سره مې مینه له درېیم ټولګي څخه وه، دا چې زه د خپل ټولګي اول نمره وم او ترانې به مې ویلې، نو هماغه وخت کې خلکو تشویق کړم. له سندرو سره سره زه ارمونیم (باجه)، طبله، ډولک، رباب او شپېلۍ هم غږولی شم.

*پ: لومړنۍ سندره دې کومه یوه ده او په خپلو ویل شوو سندرو کې دې کومه یوه ډېره خوښېږي؟ خپله دې کوم شعر ویلی او که نه؟*

ځ: لومړنۍ سندره مې د استاد ستار خان په زیار د ملي شاعر استاد ملنګ جان استاد غزل دی:

لاس مه وهه په اور کې عاقبت به وسوځېږې
ظالـــمه د مـــظلوم لــه آهــه ولې نه وېرېږې

او په خپلو ویلو سندرو کې مې د بابرزي صیب دا شعر ډېر خوښ دی، چې:

د شملو وطن ته راشه چې شملې درته په سر کړو
تــه رښا د ستورو راوړه مونږ به وینې دزړه درکړو

زه خپله کوم خاص شعر نه لرم، خو ټپې (مسرۍ) مې ډېرې جوړې کړې دي.

*پ: په سندرغاړو کې دې د چا اواز خوښ دی؟*

ځ: ټول مې خوښ دي، هر یو خپل خپل مقام لري، خو ښاغلی استاد خیال محمد، ښاغلی رحیم غمزده، ښاغلی استاد شاه ولي او هارون پاچا اوازونه مې ډېر خوښ دي.

*پ: ستاسې په کورنۍ کې څوک له موسيقۍ سره تړاو لري که نه؟*

ځ: هو، لکه څنګه مې چې مخکې وويل، زه له يوې فرهنګي کورنۍ سره اړيکه لرم، چې پلار مې د موسيقۍ استاد و، نو زما د کورنۍ غړي زما وروڼه هر يو ننګيالی جان، نثار خان او اسد خان هم تکړه موسيقي غږونکي دي او يو ورور مې زرياله صمدي سندرې وايي.

*پ: کومو بهرنيو هېوادونو ته مو هنري سفرونه کړي دي؟*

ځ: دوبۍ، هالېنډ، ډنمارک، ناروې، جرمني، سويډن او اتريش ته مې سفرونه کړي دي.

*پ: د کومو شاعرانو شعرونه مو تر اوسه ويلي دي که د يو څو نومونه واخلئ؟*

ځ: ملي شاعر ملنګ جان، رحمن بابا، خوشال بابا او حمزه بابا، خاطر اپريدي، خيبر اپريدي، محمد نور استاد، سيد بهاوالدين، داکتر صاحب کبير ستوري، غني خان، لايق زاده لايق، شفيع الله بابرزي او داسې نورو شاعرانو شعرونه مې ويلي دي.

*پ: تاسې چې دلته جرمني ته راغلي ياست څه احساس کوئ؟*

ځ: ټولو پښتنو ډېره مينه راکړه، د ټولو دې کور ودان وي.

*پ: کومه هنري جايزه يا ايوارډ او يا دې ته ورته مو څه ترلاسه کړي دي؟*

ځ: په **2006**م کال په جرمني کې د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند **PSDP** را ته د باچا خان جايزه راکړې، چې دا زه ډېر زيات وياړ ګڼم او له **PSDP** څخه ډېره مننه کوم، چې په بهر کې له سياست سره د خپل کلتور پالنه هم کوي.

❃❃❃

# مېرمن هما (مينه افغان)

خوږ اوازه سندرغاړې

مېرمن هما، چې له خپل ټاټوبي سره د زياتې مينې له امله ځان (افغان مينه) نوموي اصلاً د کندهار ده او اوس د جرمني د کُلن په ښار کې استوګنه لري او د کولن په ښار کې په يوه روغتون کې د ډاکتر د مرستيالې (**Assistant Doctor**) په توګه خپله دنده سرته رسوي.

موسيقۍ په برخه کې دلته له الماني استادانو سره سره د هېواد پياوړي هنرمند استاد يار محمد علي زي څخه زده کړه کوي. کله ناکله شعرونه هم وايي. د يوه شعر نمونه يې داسې ده:

اشنا ياره اشنا ډېر ګران يې ته پر ما
نور توان د جدايۍ نه لرم مرمه بې له تا

ددې پوښتنې په ځواب کې، چې تر اوسه مو څومره سندرې ویلي دي؟ مېرمن هما وايي:

له خپل استاد ښاغلي يار محمد علي زي سره مې يو ځای په ګڼو محفلونو کې سندرې ويلي دي او له استاد يار محمد رند علی زي سره مې يوه سي ډي هم ثبته کړې ده، چې په هامبورګ کې به د باختر ميوزيک سنټر له اړخه مينه والو ته وړاندې شي.

*پوښتنه: که ځوانانو او پېغلو ته څه پېغام لرې، نو وواياست.*

ځواب: د هنر او فن مينه وال پېغلې وي او که ځوانان او په خاصه توګه ځوان کول ته دا پېغام لرم، چې د خپل کلتور پالنه او روزنه په زغرده وکړي، خپل هنرمندان او فنکاران تشويق کړي او د پښتني کلتور د هنر او فن بڼ سمسور وساتي.

❋❋❋

# ښاغلی کبير اميري

ښاغلی کبير اميري د هېواد د هغه با استعداده هنرمندانو له ډلې څخه دی، چې د خپلې زده کړې تر څنګ يې پښتني کلتور خدمت ته ملا تړلې ده په خپل ښکلي اوازيې په بهر کې د پښتنو ډېر محفلونه تازه او رنګين کړي دي.

ښاغلی اميري د سويډن د مالمو په پوهنتون کې د سياسي پوهنځي د دويم کال پوهېدونکی دی. له زده کړې سره سره د حلالې روزۍ د ګټلو لپار ټکسي هم چلوي. جرمني ته څو وارې د هنري محفلونو لپار راغلی دی، موږ ورسره لنډه مرکه کړې ده، چې ګرانو لوستونکيو ته يې وړاندې کوم.

*پوښتنه: ستاسې نوم او د پلار نوم څه دی، ستاسې پلار څه وظيفه لرله؟*

ځواب: زما نوم کبير اميري دی، د پلار نوم مې امير خان دی، چې پوځي افسر و.

*پ: د زېږېدو ځای او نېټه، اصلي او اوسنی پته مو څه ده؟*

ځ: زه پر **1977**ع کال د ننګرهار ولايت د حسارک په ولسوالۍ کې زېږېدلی يم او اوس په سويډن کې د مالمو په ښار کې استوګنه لرم.

*پ: زده کړه مو چېرته او څومره کړې ده؟*

ځ: زه اوس د مالمو د پوهنتون د **Political Scince** سياسي پوهنځي د دويم کال پوهېدونکی (محصل) يم.

*پ: واده مو کله کړی دی او څو اولادونه لرئ؟*

ځ: واده مې د **1999**ع کال په جولايي کې کړی دی، يوه پېنځه کلنه لور، چې مدينه نومېږي، لرم.

*پ: څو ورونه او خوېندې لرېو، ستاسې په کورنۍ کې نور څوک له موسيقۍ سره مينه لري او که نه؟ او د موسيقۍ کومې الې غږولی شې؟*

ځ: درې ورونه او دوه خوېندې لرم، زما مشر ورور امان الله اميري هم سندرې وايي. ارمونيه او رباب هم غږولی شي.

*پ: له هنر او موسيقۍ سره مو څنګه او ولې مينه پيدا شوه؟ ايا چا هڅولي ياست او که پخپله مو پيل کړی او زده کړه مو له چا څخه کړې ده؟*

ځ: بې له شکه چې د کورنۍ مرسته او تشويق زما سره په موسيقۍ کې بې ساری رول لري، خو د مسافرۍ ژوند او د دوستانو تشويق دې ته وهڅولم، چې موسيقۍ ته مخه کړم. د موسيقۍ کوم خاص لارښود نه لرم، خو د خپل مشر ورور امان الله اميري د مرستو او لارښوونو پوروړی يم.

*پ: د موسيقۍ په جوړولو کې درسره څوک مرسته کوي؟*

ځ: موسيقي زه پخپله جوړوم او د موسيقۍ د الاتو د غږولو په برخه کې را سره نجيب الله، فريدون جان او فيض الله جان، چې زما د کورنۍ غړي دي، مرسته کوي.

*پ: په خپلو ويل شويو سندرو کې مو کومه يوه ډېره خوښېږي او لومړنۍ سندره مو کومه يوه وه؟*

ځ: د ښاغلي لمر (پرهېز) شعر دی، چې مطلع يې ده:

ای زموږ ګرانه هېواده
ستا ښاېسته ښکلې هوا ده

زړه دې، دی د کاېناتو
هره تېږه دې طلا ده

ډېر خوښېږي، ځکه چې د مسافرۍ په دې حال کې د وطن له حال سره سمون خوري.

*پ: ايا پخپله د موسيقۍ کمه اله غږولی شئ؟*

ځ: ارمونيه (باجه) غږولی شم او دومره مې پکې لاس چلېږي، چې د خپل زړه براس پې وېستلی شم.

*په: تر اوسه مو بازار ته کوم کېسټ يا C.D وړاندې کړې ده که نه؟*

ځ: د خپلو زياتو مصروفياتو او زده کړې له کبله لا نه يم توانېدلی، خو په نظر کې لرم چې د هنر مينه والو ته به په راتلونکي کې C.D او يا کېسټونه وړاندې کړم.

*پ: په کومو هېوادونو کې مو هنري کنسرتونه يا د موسيقۍ پروګرامونه ورکړي دي؟*

ځ: سويډن، ناروې، ډنمارک، انګلستان او جرمني کې مې ژوندي (لايف) پروګرامونه ورکړي دي.

*پ: د کومو شاعرانو شعرونه مو تر اوسه ويلي دي؟*

ځ: تر اوسه پورې مې د ناګار صيب، لمر پرهيز صيب، استاد ملنګ جان، هېواد شبرزاد او داسې نورو شاعرانو شعرونه ويلي دي.

*پ: په پښتنو سندرغاړو کې مو د چا اواز ډېر خوښېږي؟*

ځ: د هر سندرغاړي اواز ځانته خپل يو خاص رنګ او خوند لري، د ټولو سندرغاړو د اواز او موسيقۍ مينه لرم، خو د استاد خيال محمد اواز مې ډېر خوښېږي.

*پ: په خوراکونو او غذاګانو کې دې کومه یوه ډېره خوښه ده؟*

ځ: د خپلې مېرمنې د لاس پخه شوې غذا (کتغ) مې ډېر خوښېږي، هر څه چې پاخه کړي، ډېر مزیدار او خوندور وي، نو ماته خوند راکوي.

*پ: دا چې تاسې جرمني ته څو وارې د کنسرتونو، محفلونو او پروګرامونو دپاره راغلي یاست، څه احساس کوئ؟*

ځ: زه چې کله جرمني ته راشم، نو خپل وطن راته رایاد شي او داسې احساس کوم، لکه چې خپل وطن ته راغلی یم، دا ځکه چې دلته او سېدونکي مسافر پښتانه له خپل پښتني کلتور سره ډېره مینه لري. د المان د پښتنو پښتنه مینه، پښتني غېرت، له پښتو موسیقۍ سره مینه او د پښتنو هنرمندانو تشویق، مېلمه پالنه او افغاني غرور زما پښتني احساس راتازه کوي او ماته ډاډ حاصلېږي او د خوشحالۍ احساس کوم.

*پ: فن او هنر سړي ځوانوي، موسیقي انسان ته روحي خوشحالي او تسکین ورکوي، ستاسې نظر په دې برخه کې څه دی؟*

ځ: وایي موسیقي انسان ته روحي خوشحالي او تسکین ورکوي، په دې خبره باندې زما په نظر یوازې هغه کسان ډېر ښه پوهېږي، چې له وطن څخه لرې او په مسافرۍ کې ژوند کوي له موسیقۍ سره درې نور اساسي شیان تړلي دي لکه شعر، ادب او هنر هر هغه څوک چې موسیقي غږوي، نو هرو مرو باید د ادب چوکاټ ته ننوځي او د شعر په مفهوم باندې یې ځان پوه کړی وي او وروسته یې په هنر باندې رنګینې کړي.

شعر او هنر ته باید په سپکه سترګه ونه کتل شي او کوم ساده او اسان کار هم نه دی. هر هغه شی یا لفظ چې له زړه څخه راوځي او بیا بېرته په زړه باندې اثر کوي، هغه کوم اسان او یا ساده کار نه دی. هغه شعر دی هغه هنر دی، کله کله چې زه د ملنګ جان استاد شعرونه لولم، نو د هغه دا خواږه الفاظ په چا دومره اغېزه کوي، چې بې اختیار مې له سترګو اوښکې راځي.

*پ: د موسیقۍ او هنر د پرمختیا لپاره ستاسې په نظر څه کول پکار دي؟*

ځ: موسیقي زموږ د عنعناتو او کلتور یو اساسي جز دی، چې سندرغاړي یې پخپل اواز کې نوي نسل ته رسوي او د ژبې په ژوندي کولو کې یو مهم رکن دی، نو باید موسیقۍ ته د قدر په سترګه وکتل شي او کوم د موسیقۍ بد میراث چې موږ ته له خپلو نیکونو څخه راپاتې دی، هغه هېر کړو او د موسیقۍ په قدر باندې ځان پوه کړو.

په درناوی

✵✵✵

# کمین ګل حیرت

کمین ګل حیرت د پښتو موسیقۍ یو تکړه کیلانټ سیکسفون غږوونکی دی، چې پر **1340** هـ ل کال د دلوې په میاشت کې چې د روژې مبارکې یوویشتمه ورځ وه، د ننګرهار د سره رود په یوه موسیقي پاله کورنۍ کې زېږېدلی دی.

ښاغلی کمین ګل حیرت وایي:

واده مې پر **1355** هـ ل کال کړی دی، دوه زامن (همایون حېت او اطاف حیرت) خدای راکړي دي. څلور ورونه او څلور خوېندې لرم. ورونه مې ټول له موسیقۍ سره تړون لري. استاد حاجي چمن ګل مې مشر ورور دی، چې ډېر شاګردان یې هم روزلي دي، طبله، رباب، ارمونیه او ډولکی غږولی شي. استاد مینا ګل او صنم ګل طبله، ارمونیه، رباب او ډول غږوي.

*پوښتنه: کله مو هنر ته مخه وکړه او له چا څخه مو موسیقي الات زده کړي دي؟*

ځواب: زه د لسو کالو وم، چې هنر ته راغلم، زموږ ټولې کورنۍ طبله غږوله، نو ما خپله رشته بدله کړه او کیلانټ مې زده کړ او س کیلانټ سیکسفون غږوم. زما لومړنی استاد زما پلار دی، نور استادان هم لکه استاد غلام مصطفی خان، استاد عبدالصمد، استاد شاه ولي، استاد لعل خان او استاد زاخېل. زه هم دیارلس شاګردان لرم، چې نقیب الله حیرت، شهزاده، قدرت الله، جود او نور... نومېږي.

*پ: خپله دې سندره یا کوم شعر ویلی دی؟*

ځ: سندرې مې نه دي ویلي، خو شاعري مې کړې ده، یو شعر د نمونې په توګه تاسې ته وایم:

پاس په تورخم مې اړوینه
یار مې ننګرهاری دی مورې ما درنه وړینه

بل شعر:

با علم و با ادب هــر انــسان زما خوښېږي
ولا چې ستا دپاره ټول لغمان زما خوښېږي

د الــفت او مــحمد نور ښـا پسته وطن یې
دا مـرکــز د مـــهتـرلام زمـا خـوښــېږي

*پ: په پښتنو سندرغاړو کې دې د چا اواز ډېر خوښېږي؟*

ځ: استاد خیال محمد او استاد اول میر مې ډېر خوښېږي.

*پ: تر اوسه پورې مو کوم بهرنیو هېوادونو ته هنري سفرونه کړي دي؟*

ځ: تر اوسه پورې مې کوریا، روسي هېوادونو، دوبۍ، هندوستان، اروپا، ایران او امریکا ته سفرونه کړي دي.

*پ: د هنر په میدان کې موکومه جایزه، مډال، ایوارډ او یا دې ته ورته بل څه لاس ته راوړی دی؟*

ځ: د کوریا په پینګ پاونګ په دیارلسم فیستوال کې مې ګولډ مډال اخیستی دی. برلین (ختیځ برلین) کې مې له تلویزیون څخه مډال اخیستی، ترکیه کې مې نقره یي مډال اخیستی پر 2006م کال کې مې په جرمني کې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) د باچا خان جایزه ترلاسه کړې ده.

*پ: حیرت صیب: دا راته ووایه چې په خوراکونو (غذا) کې دې څه شی ډېر خوښېږي؟*

ځ: د بانجان او شلغم (ټېپر) نه بغېر مې نور ټول خوښېږي.

*پ: پښتو موسیقي په اوسني وخت کې څنګه ده؟*

ځ: پښتو موسیقي په اوسني وخت کې ډېره ښه روانه ده.

❋❋❋

# استاد یار محمد علیزی

ښاغلی استاد یار محمد علیزی د خوږ او زړه راښکونکي ښکلي اواز لرونکی، با استعداده، نوښتګر هنرمند دی. له هنري پوهې سره سره سیاسي پوهه هم لري. پښتو، پښتونولي، مېلمه پالنه، دوستي او ملګرتیا یې د یادونې وړ ده. پر 1333 هـ ل کال یې دې نړۍ ته سترګې پرانېستي دي. پلار یې میرزا علي محمد خان د هېواد له مشهورو شخصیتونو (سرېتوبونو) څخه و، چې د بهرنیو چارو وزارت مېرزا او څه د پاسه 35 کال یې د کابل د تفتیش مدیر، د بدخشان حاکم او سیاسي کوریر، په تاشکند کې د افغانستان د جنرال قونسل مرستیال او بیا د سرپرست قونسل په حیث خدمت کړی دی.

استاد یار محمد علیزی شپږ ورونه او درې خویندې، دوه زامن (احسان او عمر) او یوه لور (دیبا) لري، چې عمر (رامین علیزی) یې ښه ورزشکار کیک باکسر دی، چې په هالنډ او بهر کې یې مسابقې او درې کپونه ګټلي دي. په بین المللي (نړیوالو) مسابقو کې د برخې اخیستلو لائنس هم لري.

استاد یار محمد علزی د اتو کالو راهیسې په هالېنډ کې له خپلې کورنۍ سره یوځای ژوند کوي.

استاد یار محمد علیزي تر لومړنیو زده کړو وروسته خپلې لوړې زده کړې د کابل پوهنتون د ادبیات او بشري علومو په پوهنځی کې پر 1357 ل کال بشپړې کړې دي. پر 1358 او 1359 ل کلونو کې یې د ننګرهار د ښوونې او روزنې عالي موسسې کې د استاد (ښوونکي) په توګه خپله دنده تر سره کړې ده. د خپلې ملي ژبې (پښتو) سربېره په انګلیسي، دري، اردو (هندي)، روسي او هالېنډي ژبو روانې خبرې کولای شي.

له شعر او شاعرۍ سره هم علاقه لري. کله کله شعر هم وایي. د افغانستان په 21 ولایتونو کې یې ژوندي موسیقي پروګرامونه کړي دي. له هېواد څخه بهر یې په پاکستان، هالېنډ، انګلستان، المان، بلجیم، سویس، اتریش، ناروې، سویډن، ډنمارک، امریکا، ماسکو، تاشکند، الماتا، خارکوفو مینسک او اوکراین ته هنري سفرونه کړي او ژوندي (Live) پروګرامونه او کنسرتونه یې اجرا کړي دي.

موږ له استاد یار محمد علیزي سره مرکه کړې ده، چې تاسې یې لوستلو ته رابولو.
ددې پوښتنې په ځواب کې، چې له هنر او موسیقۍ سره مو څنګه مینه او شوق پیدا شو؟ استاد وایي:
(زما له ورکوټوالي څخه له موسیقۍ او ټنګ ټکور سره مینه وه، ځینې سندرې چې به ما له راډیو ـ ټلویزیون او کېسټونو څخه واوریدې، نو زما په احساس به یې اغېزه کوله او زه یې مدام هڅولم، چې سندرې ووایم او کال په کال به مې ورسره مینه زیاتېده، چې په دې ترڅ کې خپل خدای بښلي پلار هم وهڅولم، چې سندرې ووایم. نو پر 1354 هـ ل کال مې په سندرو ویلو پیل وکړ. د هنر او موسیقۍ نوره زده کړه مې د یو هندي مشهور استاد، چې استاد یش پانډې نومېږي، کړې ده).
*پوښتنه: د موسیقۍ په جوړولو کې درسره بل څوک مرسته کوي او که نه؟*
ځواب: نه.
*پ: څومره شاګردان دې روزلي؟*
ځ: شاګردان مې روزلي دي، چې ډېرکي یې شوقیان دي او حرفوي پکې کم دي یوه عراقۍ شاګرده مې هم په مسکو کې وروزله، چې د ایکترنا نومېده، چې ما سره به یې غبرګې پښتو سندرې ویلې. خوږ ژبې سندرغاړې هما (افغان مینه) هم زما تکړه او با استعداده شاګرده ده، چې اوس دلته په جرمنۍ ـ کولن ښار کې اوسېږي.
*پ: که خپله لومړنۍ سندره مو یاده وي، نو وو ایاست؟*
ځ: یوه هندي سندره وه، چې:

انشا جي اٹھو، اب کوچ کرو
اس شهر مي جي کو لګانا کیا.

*پ: تر اوسه مو څومره سندرې ویلې؟*
ځ: دقیق شمېر یې راته نه دی معلوم.
*پ: په راډیو تلویزیون او فلمونو کې مو څومره سندرې ثبت شوي دي؟*
ځ: په راډیو او تلویزیون د سندرو شمېر هم راته نه دی معلوم، خو په فلمونو کې مې سندرې لا نه دي ویلي.
*پ: د ټنګ ټکور او هنر مینه والو ته مو څومره سندریز البومونه، کېسټونه یا سي ډي وړاندې کړي دي؟*
ځ: تر اوسه پورې مې د هیوا او بهرنیو هېوادونو له بېلابېلو میوزیک سنټرونو څه 12_13 کېسټې او Cds د هنر مینه والو ته وړاندې کړي دي.
*پ: ستاسې په کورنۍ کې نور څوک له موسیقۍ او هنر سره مینه لري؟*
ځ: هو، وربره مې نادیه، چې په هامبورګ کې زېږېدلې ده او اوس د 23 کالو ده، سندرغاړې انوپیانویست ده. اوس زما د شرقي موسیقۍ تربیې او روزنې لاندې ده.
*پ: ایا کومه رسمي او یا غیر رسمي دنده اوس لرئ او که نه؟*
ځ: نه.

*پ: کومو بهرنیو هېوادونو ته مو هنري سفرونه کړي دي، که د یو څو نومونه واخلئ؟*

ځ: ما تراوسه پورې پاکستان، تاشکند، الماتا، خارکوف، منسک، مسکو، آلمان، بلجیم، سویس، اتریش، ډنمارک، سویډن، ناروې، پراګ، لندن او امریکا ته هنري سفرونه کړي دي.

*پ: ایا کومې جایزې ایوارډونه او یا دې ته ورته بل څه مو ترلاسه کړې دي؟*

ځ: تراوسه پورې مې د خدمت او صداقت جایزه، د ستور نښان، د راډیو تلویزیون له خوا نقدي جایزې، او په جرمن کې د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند **PSDP** له خوا د باچا خان جایزه لاس ته راوړې ده.

*پ: په خپلو ویل شوو سندرو کې مو کومه یوه ډېره خوښېږي؟*

ځ: یاره ! د بنګړیوالې داستان مې ډېر خوښیږي.

*پ: تراوسه پورې مو د کومو شاعرانو سندرې یا شعرونه ویلي دي که د یو څو نومونه واخلئ؟*

ځ: ما تراوسه پورې د عبدالباري جهاني، پیر محمد کاروان، محمد امین ملنګ جان، داکتر کبیر ستوري، عبدالروف بېنوا، خان میران اتحاد، اسحاق ننګیال، افضل ټکور، بینا، بهیر اسماري، نظیف الله تکل، عبدالوهاب سرتېر، عارف خزان، لطیف بهاند، وطندوست نور الله ځل، ممتاز ارمان، رحمت شاه سایل، محب الرحمن محب، یوسف روف، شاه جان حرکت، لونګ مختار شینواري، خورشید احمد کټلوي، اجمل ختټک، غني خان غني، طارق رشاد، غلام محمد کامه وال، مبارز ساپي، حمزه شینواري، خاطر اپریدي او نورو قدرمنو شاعرانو، چې لاهم ډېر له قلم څخه پاتې شول، شعرونه ویلي دي.

*پ: خپله مو کوم شعر ویلی؟*

ځ: هو، ویلی مې دی:

روانه شه زما د جنازې سره دلبره
ژړا کړه د تابوت د کنارې سره دلبره

رانغلې ځنکندن کې زما سترګې خلاصې پاتې
شوې ستا د انتظار له تقاضې سره دلبره

جامې تورې په ځان کړه د زیارت په سباوون
زیارت ته مې بیا راشه سپارې سره دلبره

***

محفل د خوښۍ نـشته چې سو سیال لره ساقي شوم
آغا صیب سید خلیل نه څلور نیم سوه باقي شوم

ایـرو لـــکه بلا وه نه راتـګ یې مــوږ تـه ښـه و
بې ټوکې درته وایم په رشتیا په جېب خالي شوم

او سـېــږو اروپــا کې چې زندان ترېنه بهتر دی
تـوان مې په پــښو نشته زه بېزاره له چاقي شوم

کاسـې مــې له وزرو دي تــړل سپــینې شاته
پــرواز کولای نه شـم بام په بام زه ملاقی شوم

نـظــر چې کړم همدردو ته نو زړه مې ورته ژاړي
ځوړند ورسره تار کې لکه غوښه زه قامي شوم

وطن مې کنډواله شو او پښتو یې کړه سرتوره
کمین کې لا پراته دي قصابان زه سلاقي شوم

سیخونه مې په زړه وهلي وخت د اور په سر یم
وامې ړوه ظالمه چې کباب داغي داغي شـوم

راضي له ژونده نه او سرګردانه په حجرو کې
څه غـتــه اشـتباه وه هنرمند هسې ناقي شوم

*پ: هغه ځوان چې له هنر او موسیقۍ سره مینه لري، څه باید وکړي؟*

ځ: تر څو چې د موسیقۍ د زده کړې مرکزونه جوړ نشي، مشکله ده چې ټولنې لپاره راتلونکي ته هنرمندان وروزل شي. مینه وال و غېر له دې چې د خپلې ذاتي رابطو په وجه موسیقي زده کړه وکړي، بله لاره نشته او دغه امکان د هر مینه وال له وسه پوره نه دی. استعدادونه شته دی، خو دغه زمینه ورته نه ده مساعده، چې خپل استعداد ته وده ورکړي او په کار یې واچوي او لاربښوونې ترلاسه کړي.

*پ: په پښتني ټولنه کې د هنرمند دنده څه ده؟*

ځ: هنرمند باید هڅه وکړي چې خپل هنر د خلکو په خدمت کې راوړي اور خپل توان په اندازه وقتاً فوقتاً خلکو ته نوې سندرې وړاندې کړي او په خپلو سندرو نه یوازې د خلکو د ذوق او شوقو په پیاله کې مرغلرې وړاندې کړي، بلکې تیارو ته هم رڼايي وروبښي.

*پ: دغه اله چې تاسو غږوئ، خومره تالونه پکې غږولی شئ؟*

ځ: زما له موسیقۍ تعلیم سره دغه پوښتنه لږه تخنیکي نیمګړتیا سره مخامخ کېږي. هغه دا چې:

تال: یا تالونه د (ورن) یا (لی) طبلې او ډول لپاره راځي لکه:

ګده، دادره، مغلي، روپک، تاپید، چپ تال، تین تال، ایکه تال او نور...

راګ یا راګونه د سُر یا د پردو اواز ته: هارومونیه، ستار او د نورو آلو د اوازونو لپار راځي.

مقام یا مقامونه لکه: بیروي، پاړي، درباري، ټوډي، مالکونس او نور...

نو څومره تالونه پکې غږولی شې، صرف د (لی) لپاره راځې نه اوازونو لپاره لکه هارمونیه، رباب، ستار... کېدای شي ځینې په خپل سر هنرمندان دغه اند سره موافقه نه وي، خو زه يې پروانه لرم. دا په موسیقۍ کې یوه علمي بڼه لري او زه همداسې روزل شوی یم.

*پ: په پښتنو سندرغاړو کې مو د چا اواز ډېر خوښېږي؟*

ځ: زما د ایوب استاد او استاد خیال محمد اوازونه ډېر خوښېږي.

*پ: کوم خوراک (غذا) مو ډېره خوښېږي؟*

ځ: قابلي پلو، سابه او دوده (جوار) مې ډېر خوښېږي.

*پ: تاسې چې دلته جرمنې ته راغلې یاست څه احساس کوئ.*

ځ: هم خوښي او هم خپګان. د کلتور، ادب او هنر د مئینانو او پتنګانو په لیدلو خوشحاله یم، خو کاشکې دغه پاک او سپېڅلی احساس چې تاسو کې شته او ځینو هغو خلکو کې چې دلته نه شته، خو په دغه احساس کې تاسو سره شریک دي، په نورو خلکو کې هم وای، یا لږ تر لږه یوه کوچنۍ برخه يې وای، نو هنرمندانو به هېڅکله خپګان نه درلودای.

*پ: ستاسې له نظره د پښتو موسیقۍ د پرمختیا لپاره څه کول پکار دي؟*

ځ: په خالي لاس او تشو الفاظو خو هېڅ هم نه کېږي. په کار دي چې مالي څانګې منځ ته راشي او هنرمندانو ته مرکزونه جوړ شي، که په وطن کې وي او که په اروپا کې، چې هنرمندان (سندرغاړي او نوازندګان) هم خپل هنر وساتي او هم راتلونکي ته نوي شاګردان وروزي او د خپل کار ثمر په CD ګانو او کسټونو او د کنسرتونو له لارې خلکو ته او بازار ته وړاندې کړي او عوائد يې په همدغه مالي څانګو کې نور هم زیات شي او په ښولارو تخصیص ورکړل شي.

*پ: هنر سړی ځواني او انسان ته روحي تسکین او خوشحالي ورکوي، په دې اړه ستاسې نظر څه دی؟*

ځ: زه ستاسې له اند سره هم نظریم، خو په دې شرط چې هنر پوره په خپل احساس کې شامل نه کړي، که احساس يې قوي وي نو هنرمند ډېر ژر د زړه قوت له لاسه ور کوي، ماحول ورته سور اور کېږي. هنرمند هڅه کوي چې د خپل هنر په واسطه د ټولنې ځینې ناوړې او تیارې اصلاح او روښانې کړي. له بده مرغه په ټولنه کې ورته د (ډم) په سترګه کتل کېږي او ډم يې بولي، چې دغه شمېر په پښتني ټولنه کې ښېخې زیات دی، ځکه ژر ځواني او د زړه قوت له لاسه ورکوي، خو هېڅکله مات نه مني.

دغه پورتنی اند په پښتني ټولنه کې زما شخصي یا ذاتي برداشت دی، چې په هزاره و کې داسې نه ده او په تاجکانو کې هم داسې نه شته. تاسو کولای شئ ددغو قومونو هنرمندان په ډېرکی کې د پښتو ژبې هنرمندانو ژوند او قدر ارزیابي کړئ. دا زموږ حق دی، موږ غواړو چې زموږ د درنې ژبې او هنر حفاظت وشي. د ګرانو لوستونیکو څخه په ډېر پښتني مینه او ادب بښنه غواړم، چې د یو ناروغ په څېر داسې سخت ویل او لیکل کوم، خو حقیقت تل دغسې دردونکی وي، ددغه ستر کتاب (پښتانه هنرمندان) درنو لوستونکیو په وړاندې که جسارت ونه شي، زه خو تل دعا کوم د درد په ګوتو چې خدای دې هېڅ ځوان په پښتو ژبه هنرمند نه کړي او که یې هنرمند کوي، نو دا چم ورباندې وکړي چې احساس یې ورځنې واخلي یا دا چې ټولنه ورته داسې سازګار کړي او له ژوند او هنر نه خوندونه واخلي او خپلو خلکو ته، خپلې خاورې او خپلې ژبې ته خدمت وکړي.

*پ: ستاسې له نظره د پښتو موسیقۍ اوسنی وضع (حالت) څنګه دی او د هنر د پرمختیا لپاره څه کول پکاردي؟*

ځ: په اروپا کې خو د پښتو موسیقۍ جنازه له کلونو کلونو راهیسې د کېبورډ له کور څخه د جاز په هدبه کې خاورو ته سپارل شوې ده او ډېر پښتانه هنرمندان په اروپا کې خپل محفلونو کې کېبورډ غربي موزیک ته بلنه ورکوي او د خپل وطن په طبله، رباب او ستار اصلاً شرمېږي. او په وطن کې یې هم اوسنۍ وضعه د تشویش وړ ده.

هغه سپېڅلي هجرې چې د بابا په نوم ابادې وي، د هنرمند د مجبورۍ له لاسه د هنرمند د بې وزلۍ په خاطر او د ځینو بې پروا مسولیتونو له لاسه کال په کال شړه کېږي او راتلونکیو ته لاپسې بې خونده او پردۍ کېږي. دا زما په اند اروپایي ټولنو د کار یوه لویه او ډېره مهمه برخه ده، چې د هنرمندانو د راټولولو او کار په هکله تدابیر نیسي که د ټولنو وظیفه یوازې او یوازې کتاب چاپول وي، نو په دې پوره یقین وکړئ چې ډېر خلک بې سواده دي او د دوی دغه کار هومره موثر نه دی او خلک اکثراً دا کتابونه نه لولي یا وخت نه لري یا حوصله یې نه لري او یا هم سواد نه لري، چې یې ولولي. که صرف په دغه کار دا ټولنې دوام ورکوي نو د یو هنرمند په حیث هیله مند یم، چې د هنر او هنرمند نوم د خپل کلتوري فعالیتونو له منځ څخه وباسي، چې نه هنر او هنرمند ته کار وکړي او نه له احوال نه یې خبر اخلي، نو د هنر او هنرمند شتون په دغو ټولنو کې د هنر او هنرمند له نوم څخه د خپلې کلتوري ټولنې د بقا او اوږد عمر لپاره غیر عادلانه استفاده کول دي. یوازې او یوازې د ګوتو په شمېر څو محدود کسان چې د هنر او هنرمند له درد سره ځان غم شریک ګڼي او وخت پر وخت یې له هنرمندانو سره مرسته کړې ده او هنرمندانو ته یې د خارجي سفرونو بندوبست کړی دی، کاشکې چې ددغو با احساسو پښتنو ځوانانو او مشرانو په څېر یو څو نورو کلتوري ټولنو، ځوانانو او مشرانو په دغه فرهنګي کار کې له دوی سره لاسونه یو کړي وای او په خپل وار په دغه کلتوري کار کې ونډه واخلي. کنسرتونه، سي ډي ګانې او د تیاتر په برخه کې فلمونه او د ستېژ نمایش، هنري ټوټې، ترتیب، ثبت او خپاره کړي، چې له یوې خوا د ژبې ساتنه وشي او له بلې خوا خپل کلتور او فرهنګ ته وده ور کړي. دې کې به هم د هنرمند او هم د خلکو د خوښۍ زړې راشنه شي او دولسونو د خوشحالۍ سبب به هم وګرځي.

❋❋❋

# ماسټر علي حېدر

خوږ اوازه سندرغاړی او نامتو موسيقي جوړوونکی

د پښتو موسيقۍ نامتو کمپوز او طرز جوړوونکی او خوږ ژبی سندرغاړی استاد علي حېدر، چې په ماسټر شهرت لري، د خدای بښلي هوا جان زوی، د ننګرهار ولايت د خوږيانو ولسوالۍ د وزېرو د کلي په سره قلعه کې پر 1966ع کال زېږېدلی دی.

ماسټر د دوو کالو و، چې پلار يې پېښور ته کډه وکړه په څلور کلنۍ کې يې پلار له دې فاني دنيا څخه سترګې پټې کړې، نو سرپرستي يې د مشر ماما نور محمد په غاړه شوه. ماسټر خپله زده کړه پېښور کې کړې ده، واده ئې هم همدلته کړی دی. درې زامن، چې سليم، هارون او عادل نومېږي، لري. يوه خور لري او يو ورور، چې غلام نومېږي طبله غږوي او کله کله سندرې هم وايي.

*پوښتنه: له موسيقۍ سره مو کله، ولې، چېرته او څنګه مينه پيدا شوه؟*

ځواب: دا چې زه يتيم شوم او سرپرستي مې د ماما په غاړه شوه، نو ماما مې له موسيقۍ سره تړون لاره او شوقي سندرې به يې ويلې، نو د هغې اثر پر ما هم پرېوت او له پينځه کلنۍ څخه مې له موسيقۍ سره مينه پيدا شوه. په اووه کلنۍ کې مې شوقي سندرې ويلې، د لس کلنۍ په عمر کې مې د پېښور راډيو تلويزيون د ټنګ ټکور پروګرام کې، چې سيد رحمن شينو او تاج نبي خان تاج دا پروګرام چلولو، يو څو سندرې وويلې او زما سندرې د خلکو خوښې شوې. دا چې ما په وړو کوالي کې سندرې وويلې، نو د عوامو له خوا راته د (ماسټر) لقب راکړی شو.

پر 1989ع کال د ستوني د راپېښې شوې ناروغۍ له امله زما د ستوني عمليات وشو او زما اواز ښکته شو، نو د موسيقۍ د الاتو زده کړې ته مې مخه کړه. په دغه وخت کې زما ماما هم وفات شو، نو له استاد بختيار څخه مې خپلې زده کړې ته دوام ورکړ، چې هغه پخپله رباب غږاوه او ماته يې ارمونيم (باجه) زده کوله. له استاد بختيار پرته مې له لکشمي کانت او لعل جان استاد څخه هم زده کړه کړې ده. ښاغلي استاد رفيق شينواري او ښاغلي استاد زاخېل مې هم ذهني او روحاني استادان دي.

تر 1997ع کال پورې له استاد ګلزار عالم سره ملګری وم، کمپوز او موسيقي به مې ورته جوړوله. د وخت په تېرېدو سره زما اواز بېرته ورو ورو په ښه کېدو شو. دا چې ما د پښتو نظمونو د پاره هم موسيقي جوړه کړې او نورو ګڼ شمېر سندرغاړو لکه استاد خيال محمد، هارون باچا، انور خيال، بريالی صمدي، منګل، نغمه، هدايت الله، ګلريز تبسم، وږمه، شبنم، نازيه اقبال، مه جبين قزلباش، رضوان منور، شاه ځوان منور، ګل جان صادق، وصال محمد، جليل شبنم، سيداګل مينا، رابعه تبسم، عقل مينه، جعفر خليل او نورو ته طرزونه، کمپوزونه او موسيقي جوړه کړې ده، نو کله چې به ما طرز جوړاوه، نو شاګردانو او هنرمندانو به راته ويل، چې ستا اواز ښه دی، سندرې وو ايه. نو همدا وه، چې په 1997 ع کال مې بيا په سندرو ويلو پيل وکړ. لومړنی پروګرام مې پر 1998 ع کال د سندرغاړي په حيث د پېښور تلويزيون کې له پروډيوسر اعجاز احمد نيازی سره وکړ او د سندرغاړي په توګه د هنرميدان ته راووتم.

*پ: لومړۍ سندره مو کومه يوه ده او په خپلو ويلو سندرو کې دې کومه ډېره خوښېږي؟*

ځ: زما لومړنۍ سندره د سایل صیب دا کلام دی، چې:

د یـو نـظر څـومـره تاوان غواړې
زړه رانه غواړې که ګریوان غواړې

او په خپلو ویلو سندرو کې مې دا ډېره خوښېږي:

زه لکه نیمګړی مازیګر به درنه لاړ شمه

*پ: خپله مو کوم شعر ویلی دی که نه؟*

ځ: شعر مې نه دی ویلی، خو د شعر په مانا او مطلب ښه پوهېږم.

*پ: تراوسه مو د کومو شاعرانو شعرونه ویلي دي؟ که دیو څو نومونه واخلئ؟*

ځ: تر اوسه پورې مې د ملنګ جان، خاطر اپریدي، غني خان، شفیع الله بابرزي، سلیم خان سلیم، رحمت شاه سایل، ډاکتر کبیر ستوري، اکرام الله ګران، قلندر مومند، لایق زاده لایق، لایق زمان صدف، فردوس خان فردوس، اکرم عمرزي، عزیز مانېروال، انور مانېروال، خیبر اپردي، حمزه بابا، رحمان بابا، خوشال بابا، فضل سبحان عابد، حسین احمد صادق او داسې نورو شاعرانو شعرونه ویلي دي.

*پ: په پښتنو سندرغاړو کې دې د چا اواز ډېر خوښېږي؟*

ځ: ټول مې خوښ دي، خو د استاد خیال محمد اواز مې ډېر خوښ دی.

*پ: تراوسه پورې مو څومره سندرې ویلي دي؟*

ځ: د پېښور راډیو تلویزیون او **AVT** خیبر لپار مې ګڼ شمېر سندرې ثبت او نشر شوي دي. د موزیک سنټرونو لپار مې هم زیات شمېر کېسټونه مینه والو ته وړاندې شوي دي.

*پ: کومو بهرنیو هېوادونو ته مو هنري سفرونه کړي دي؟*

ځ: ما او سه پورې امریکا، اروپا، عربي امارات او دوبۍ ته هنري سفرونه کړي دي.

*پ: په خوراکونو کې مو کومه غذا ډېره خوښېږي؟*

ځ: الوګان، وریجې او غوښه.

*پ: د هنر په برخه کې مو کومې جایزې یا ایوارډونه ترلاسه کړي دي که نه؟*

ځ: پر **1994** ع کال مې د پېښور تلویزیون نشنل ایوارډ تر لاسه کړی، په اردو میوزیک فیسټول کې مې مقابله ګټلې ده او ایوارډونه مې اخیستي دي. امریکې ته مقابله ګټلې ده او ایوارډونه مې اخیستي دي. امریکې ته هم د پښتونخوا د هنرمندانو په **Selection** کې تللی وم. پر **2006** ع کال کې چې زه جرمني ته راغلم، په جرمني کې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند له خوا راته د باچا خان جایزه راکړ شوه.

*پ: ایا کومه رسمي دنده لرې که نه؟*

ځ: نه.

*پ: دا چې تاسې په ارمونیم (باجه) پوره کنټرول لرئ او د موسیقۍ له الاتو سره مو سروکار دی، که په دې برخه کې څه رڼا واچوئ نو ښه به وي.*

ځ: ارمونیه (باجه) په فرانسه کې جوړه شوې، طبله د امیر خسرو په زمانه کې منځ ته راغلې ده، چې له هغه ځای څخه هندوستان او بیا پښتنو ته رارسېدلې ده، خو د تاریخي معلوماتو په بنسټ شپېلۍ، ډول او د تار چې بیا سیتار او رباب شکل ترې هم جوړ شو، د پښتنو له خوا ایجاد شوي دي. په اوسني وخت کې د موسیقۍ یوه نوې آله چې دروځه نومېږي او ښکلی اواز لري او د پوکي په واسطه غږېږي، په پښتونخوا کې جوړه شوې ده. او صرف یو غږونکی اروابناد زرنوش نومېده. هره اله خپل خپل سرونه او تالونه لري، چې د سازونو طرز او پیل زموږ په موسیقۍ کې له ارمونیم (باجې) څخه کېږي او بیا په عمومي توګه ټوله موسیقي د سندرغاړي پسې ځي او سندرغاړي یې **Lead** کوي.

*پ: ستاسې په نظر ښه سندره کومه وي او د سندرې د کامیابۍ راز په څه کې دی؟*

ځ: د ښې سندرې دپاره لومړی شرط ښه شعر دی، ورپسې ښه کمپوز، طرز او د سازونو او موسیقۍ په خپلو کې ***Arrangement*** دی، چې بیا شعر په خواږه اواز سره وویل شي، نو ښه سندره ترې جوړه شي.

*پ: په پښتني ټولنه کې د هنرمند یا فنکار دنده څه ده؟*

ځ: هنرمند باید کوښښ وکړي، چې ټولنه خوشحاله وساتي، ځکه چې موسیقي د امن او خوشحالۍ غږ دی، هنرمند خو د شمعې په شان ځان سوځوي او محفل رڼا کوي، خو هغه څه باید وړاندې کړي، چې زموږ د کلتور سره برابر وي او د هغه چا شعر ووایي، چې د ټولنې د اصلاح لپاره وي او هغه اورېدونکي، چې د هنرمند حوصله افزایي کوي، نو هنرمند دې دا د خدای احسان وګڼي او د اورېدونکیو احسان دې واخلي.

*پ: د غربي موسیقۍ په هلکه څه نظر لرې؟*

ځ: که زموږ د موسیقۍ له الاتو سره غربي موسیقي الات ور زیات شي، نو دا به ښه کار وي او نورې اسانتیاوې به رامنځ ته کړي.

*پ: هنر او فن سړی ځوانوي، په دې هکله ستا نظر څه دی؟*

ځ: په دې هکله به زه در ته خپله یوه خاطره ووایم:

ماته څه **Tension** و، ما به داسې احساس کاوه، چې زما تبه ده، زما هډوکو به هم درد کاوه، نو هر ډاکتر به راته د تبې پیچکارۍ وهلې، خو څه ښه والی پکې نه راتلو نو زه یو ځل د فلم د سندرو د ثبتولو دپاره له استاد خیال محمد سره یوځای لاهور ته تللی وم. د شپې دوه بجې وې، چې په ما دغه تبه راغله، خو په دغه وخت کې چې استاد خیال محمد سندره پیل کړه او اواز یې راووېست، نو زما تبه او هغه ټول دردونه ورک شول، چې د ډېرې مودې راهیسې مې درلودل. د استاد خیال محمد له اواز سره زه ښه شوم، زما روح تازه شو، زړه او دماغ مې ارام شول، نو موسیقي د سړي روح تازه او ارام ساتي، نو همېشه ورته ځان ځوان ښکاري.

*پ: که د (پښتنانه هنرمندان) کتاب لوستونکیو ته څه پېغام لرې، نو مهرباني وکړئ.*

ځ: دا چې سندرغاړی د ټولنې غړی دی او د خپل قام او وطن په خدمت کې د خپل کلتور د پرمختیا دپاره په هنري برخه کې ستره ونډه لري او د پښتني کلتور بڼ تازه ساتي، نو پکار ده چې د نړۍ د نورو سندرغاړو په شان زموږ هم درناوی وشي او وخت په وخت راته پروګرامونه جوړ کړای شي او د سرکار له خوا هم پوره پاملرنه او روزنه وشي.

دې مقام ته چې (ماسټر) رار سېدلی
ډېر لوېدلی، پاڅېدلی دی په لار کې

❋❋❋

# سپداګل مینا

سیدا ګل "مینا" د استاد مینا ګل زوی او د ثمین ګل لمسی دی. په **1973**م/**1352**هـ ش کال د ننګرهار ولایت د جلال آباد په زوړ ښار کې زېږېدلی دی.

د سیدا ګل مینا د کورنۍ ټول غړي له پښتو موسیقۍ او هنر سره اړیکې لري. پلار یې مینا ګل د تبلې او ردیم استاد دی او ترونه (حاجي چمن ګل، بادام ګل، کمین ګل او صنم ګل) یې د موسیقۍ د مختلفو آلو استادان دي.

سیدا ګل مینا واده کړی، شپږ لوڼه او یو زوی لري. لکه څنګه چې هغه په یوه هنرمنده کورنۍ کې سترګې غړولي دي، همدغسې یې د خپل فن اغاز له ډېر ماشومتوب څخه کړی دی. موږ له هغه سره څو لنډې خبرې کړې، چې دلته یې له لوستونکیو سره شریکوو:

*پوښتنه: کله او څنګه مو د موسیقۍ د بڼ په درشل پښه کېښوده؟*

ځواب: زه لا ډېر ماشوم وم چې له خپل پلار سره به ښادیو او ودونو ته تلم او له موسیقۍ سره مې ډېر شوق و. کله ناکله به مې سندرې هم ورسره ویلې، نو هماغه و چې ما په لومړي ځل د پېښور په راډیو ټلویزیون کې یوه سندره وویله او هغه داسې وه:

پټه پټه غلې غلې ځې
هو، لیلی بیا کله راځې

او بیا د پېښور راډیو ته راغلم، هلته لایق زاده لایق صیب د پښتو موسیقۍ پروډیوسر و، نو لایق صیب زه یو پروګرام ته راوغوښتم چې په هغې کې شکیله ناز هم وه، نو ما د حمزه بابا دا غزل چې:

په ساده سترګو کې دې غلا پېژنم

او يوه بله سندره ريکارډ کړه.

*پ: د موسيقۍ په آلو کې کومه آله غږولی شئ؟*

ځ: تقريباً د موسيقۍ ټولې آلې لکه **Keyboard**، اکارډن، تبله، رباب، **SPD** ډرم غږولی شم.

*پ: د موسيقۍ په هنر کې مو له چا څخه شاګردي کړې؟*

ځ: ما پخپله له عبدالستار استاد څخه شاګردي کړې چې د بريالي صمدي ماما و او بيا مې کلاسيکه موسيقي له استاد لعل خان څخه زده کړې. اوس زه پخپله هم شاګردان لرم لکه حشمت سحر، انځور کليوال او نور ډېر چې له ما څخه د موسيقۍ فن زده کوي.

*پ: ستاسې پلار استاد ميناګل چې د تبلې ډېر مشهور استاد دی، له هغه څخه مو زده کړه کړې او که نه؟*

ځ: ما له خپل پلار څخه د رديم او تبلې زده کړه کړې او زما ځينو سندرو ته زما پلار موسيقي جوړه کړې او کمپوز کړې دی.

*پ: په شاعرانو کې دې د چا شاعري ډېره خوښېږي؟*

ځ: ټول شاعران مې خوښ دي خو د هر شاعر ښه شعر مې ډېر خوښېږي او زه پخپله ترې خوند اخلم.

*پ: په سندرغاړو کې دې د چا اواز خوښېږي؟*

ځ: په پښتنو سندرغاړو کې مې د استاد خيال محمد او استاد شاه ولي اواز ډېر خوښېږي او بيا مې ټول سندرغاړي خوښ دي، د هر چا اواز او انداز پخپل خپل ځای ښه دی.

*پ: تاسې پخپلو سندرو کې د شاعرۍ له کوم صنف څخه زيات خوند اخلئ؟*

ځ: زه پخپلو سندرو کې غزل ډېر خوښوم او ولسي (فوک) سندرې مې هم خوښېږي، خو غزل مې ډېر خوښ دی.

*پ: تراوسه مو څومره اډيو ـ ويډيو کېستې او **CDs** ريکارډ کړي او خپلو مينه والو ته مو وړاندې کړې؟*

ځ: لس د کيسټو واليمونه او بې شمېره **CDs** مې ريکارډ شوي او زما مينه والو ته وړاندې شوي دي.

*پ: نن سبا چې د تېزې موسيقۍ دور دی، تاسې ورته په کوم نظر ګورئ؟*

ځ: لکه څنګه چې وخت په ځای نه دی ولاړ او پرمخ ځي، همداسې د ژوند ژواک په هر شي کې بدلون راځي، نو پښتو موسيقي هم له دغه بدلون څخه بې اغېزې نه شي پاتې کېدی، خو ضرورت ددې خبرې دی چې د موسيقۍ اصلي روح ته زيان ونه رسوي. نن سبا زه خپله د پښتو د نوې موسيقۍ لپاره کار کوم او د نوې موسيقۍ لپاره مې په پېښور کښې کمپيوټرايز سټوډيو جوړه کړې، چې کارونه يې لا بشپړ شوي نه دي، خو څو تنو هنرمندانو ته مې نوې موسيقي جوړه کړې او خلکو خوښه کړې ده. په راتلونکي کې مې اراده ده چې په جلال اباد کې خپله سټوډيو جوړه کړم او خپلو هنرمندانو ته د پښتو نوې موسيقي جوړه کړم.

له تاسو څخه ډېره مننه

❋ ❋ ❋



**حاجی عبدالنصیر ستوری** د ډاکټر کبیر ستوری ځوی په 1964 کې د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ د تتر په کلی کې زیږېدلی دی. زده کړه ئې د خاص کونړ په لیسه او د ننګرهار د بایزید روښان په پوهنتون کې کړیده. د ننګرهار پوهنتون د کونړ دپوهیدونکو د ټولنی Kunar Student Fedration د بنسټ اینښودونکو د ډلی مخکښ او د اداری چارو مشری ئې په غاړه لرله. د ازاد افغانستان د لیکوالو د ټولنی غړی او د وفا کار کونکی پاتی شویدي. په انګریزی Weekly ونیزه « جهاد ډایجسټ » او د ANS خبری اژانس کې هم دنده درلودله. د AMA د روغتیا ئې کورسونو د زده کوونکو لپاره ئې انګریزی درسونه په پښتو ژباړلی او د پښتو ژبې ښوونکی پاتی شوي دی.
د پښتتو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) پښتونخوا / افغانستان د مــشــر تابه د فــتر ( دارالانشاه ) مرستیال، د پښتونخوا مجلی د خپرونی جرګی غړی او کونړ د ځوانانو د کولتوري ټولنی د کار د ډلی غړیتوب لري.اوس په المان کې اوسیږي.



خپرووونکی: د پښتونخوا د پوهنې ډېره _ پېښور